به سیم قلب بداد ست یوسف کشور
چه مست کبر و غرور است ببرك شیاد
ز درس عشق وطن نقطه ای نمیداند
ولی به مکر و فرومایگی بود استاد
درین دیار ستم سوز بود وخواهد بود
وطن همیشه چوشیرین و مرد مش فرهاد
مباش خسته ازین تیرگی که می خندد
ز پشت این شب دیجور بانگ صبح مراد
ز پا یمردی خود بان بشنوی آری
سرود فاختگان را به قلهٔ شمشاد

دلیر هموطن پا برهنه و خرسند
که چشم دهر ندیدست هرگز ت دربند
درین دیار که درگوشه گوشه اش باشد
درفش رادی و مردانگی همیشه بلند
غرور تو نتواند که سر فرود آرد
به سعی غیر گرت جانب بهشت برند
مصیبتی است به تاریخ کشورت امروز
که جایگاه محمد (صلی الله علیه وسلم) به بولهب بخشند
زمانه باز دگر از تو امتحان گیرد
مگر ز خاطر او رفت «کابل» و «میوند»

به سوی تو نگرد باز چشم پیر فلک
کنون که حیله دشمن ترا بدام افگند
تو هم ز تیشهٔ توحید میکنی امروز
به بیستون وطن شاهکار بی مانند
برای خاطر شیرین نگار آزادی
چه نقش تازه درین کوهسار خواهی کند
به شاخسار تو مرغان حق زند یاهو
شکار جغد فرومایه مرغ حق میسند
فریب قصهٔ سود اگران مرگ مخور
که نیست در دل شان جز دورویی و ترفند
بنوش بادهٔ توحید را ز جام ثبات
ترا به «مکه» و «بطحا» ست جاودان پیوند
ز دیو سرخ بگیر انتقام گستاخی
که پر نیان وطن را به گند خویش آگند
سر غرور به چرخ برین ز ند کشور
اگر ز فتح تو این بار مژده آورد ند
ز پشت ابر سیه روزی و پریشانی
امید روشن فردا همی زند لبخند
شراب کهنه ز کشور به ارمغان دارم
برای شاعر استاد و پیر دانشمند
سپتمبر ۱۹۸۴

زرکه

د زړي پـه تـه

که زه مړه شوم او ته پاته وې لالیـه !
هـیر مې نه کړې، ښکاره مـرګ او پټ راز ونه
د ناپالـم بمونو، در په زړه کړه
که دې واوریـدل، د زرکو آوازونه

چې میـدان د نام ونګ وې ګټل شـوې
چې لمبې، دوړې، لوګـي وې کـښـتلي
چې یو- بل وته تبریک وایاست د سـوبې
خپلواکي وې - یرغلګر وې، تښت سر تللي

چې لېښلې کلې بیا راشي، وطن ته
بیا یو ځای شي، زور او ظلم جلا کړي
چې بیا زړونو ته، د ژوند هیلې ستنې شي
په لحد کې جګوي، سرونه مړي

آیا ستا به، نیه خوا، زړکه په یاد شي
چې دلته زړه، د آزادۍ، په ارمان لاړه ؟!
د وطن د خپلواکۍ، زېړی به ورکړي ؟!
که به هېر کړي، خوشالي درنه، مړه واړه ؟!

په مزار د شهیدانو، چې بلدئ شمې
د حسرت شهیده، نه شي درنه هېرې
که مې د بنمن، نه وي ورغوښ کړې
خپل احساس یې په زړه، داغلي وېړه

په مزار مې (که بنکاره و) شمه مه بلده
کل به څه کړم ؟ لاس دې کړځم ، لاس پرې کېږده
د بلې زېړی، تر هرې دېوې، رونا وي
ستا په سیوري خوشالېږم، دېوه پرېږده

داکتر الف - ری

در قربانگاه عدالت ...

افغانستان را بار دیگر تنها و تنها با نیروی جهاد می‌توان بدست آورد ؛ جهادیکه بر پایه های ایمان و عقیده استوار بوده و در همه احوال مدد جوی پروردگار است .

تنها جهاد حق است که بر فرق باطل می کوبد، و تنها نیروی ایمان است، که بر لشکر الحاد غالب می آید .

امروز وطن ما را غارتگران لگدمال کرده اند، دشمن ما، یک دشمن بزرگ است ؛ دشمنی است که می خواهد وطن و هموطن عزیز ما را، در یک لقمه به کام ببرد ؛ ولی ما می‌خواهیم بگوئیم، که اشتباه کرده است . او بر تاریخ پرهمت ما آگاه نیست . او هنوز از نام افغان ترس نخورده است، که چنین جسورانه حمله می کند. او هنوز بزعم خودش قدرت مصاف

شدن با ما را در میدان جنگ آزمائی دارد ، که هیچ آرام نمی گیرد و پیاپی در ستیزه و تلاش است .

ما می‌خواهیم این دشمن را به خطایش ملتفت سازیم و ما طرز ملتفت ساختن را از قدیم بلد بودیم .

ما میدانیم که انگلیس را چگونه شکستیم، و روس را چگونه می شکنیم . ما درین مقطع حساس زندگی، که چون کلات ارزنده در خط اول و درشت تاریخ قرار داریم، تا میدان شجاعت را بخون دشمن رنگ ندهیم ، دست از پیکار بر نمیداریم .

ما به این دشمن غدار می گوئیم که بی جهت تلاش نکند که جلو آتش سوزندهٔ انقلاب اسلامی و مردمی ملت درد رسیدهٔ افغانستان را بگیرد . ما دشمن فراری را نمی خواهیم، که زنده به منزلش باز گردد . ما انتقام ملیونها انسانی را ازو خواهیم گرفت ، که درین جهاد خستگی ناپذیر ، جام شهادت بس کشیدند .

ما بس دشمن را در قربانگاه عدالت آویخته می‌خواهیم.

ما برای آینده ها دامن میهن را گلستان خواهیم ساخت .

د د شتك بنكاري

په لاندې پاڼو کې زما د يو دوست د جهاد ځپنې خواږې لولئ چې په پښه - شپې کاله پخوا پورې تعلق لري . او اوس نه پوهيږم چې به چېرته وي او څه به کوي ، خو د ا مې يقين دی چې د هر صيغلي او بې الايشه وطنوال په څېر به په غزا کې برخه لري . (پسرلی)

چې مخکه به د ووړې په تاو سره شوه ، د دوښي د شولګرو تاو به هوا نوره هم تربت کړه . مړې - مړې خولې به د هرچا په مخ اوښتې راماتې وې . دا وخت به نو عبدالعلي له خپل توپک سره د سړک په غاړه سين د خپل بنکار له پاره مناسب ځای باله او له سين څخه به يې پناګاه استفاده کوله - د ۱۳۵۹ کال خبره ده .

عبدالعلي د ليرې غرونوباز و . د دوی کلی په ډېره هسکه، هوا دار سره مخکه کې پروت و ، د اسی ځای چې د موسم له لطفه يې هرڅه للمي وي بر د غرونو په سر کې مېوه - دانه او د ژوند ضروريات پوره کيدل

په كلي كې هم د ده ژوند په سمول و ، د وزو رمه او د للمې محكه يې لرله ، بنه آسې او غواوې - غوايې هم وريته و لاړې وو . د بازار په ورځ به د دوشې بنار ته هم راتلو . وروريې په بنار كې د بزازۍ دوكان درلود.

عبدالعلي له ريكه تور-له وينې لوړ، د قوي متو او لوى زړه خاوند و . د ننګ په كار كې نه په سر او-نه په زر . ځكه يې برسېره په بې علمۍ په قام-قبيله كې پاس او خاطر هم بنه كيدو او په پښتو كې شاړ خوانو.

هسې هم د دشتك هزارګان د بر خوانمرد او ګډوې خلك دي، خو دې پكې ممتاز و ، په هر چا بنه لګيدو او د هر چا وربانديې باور وړ چې كله به وطن سور سيلاب راغې طبعاً د هر چا سترګې بنو خوا نو ته اوبنې.

عبدالعلي تر چا كم و، چې د ننګ د ګر يې پرې اينبى واى ؟ خو ځكه ، چې دوى له لويې لارې د بر په د ده او اوچت پراته وو ، عجالتاً د جنګ له صحنې ليرې وو، خو ده ځان يواځې د خپل كور-كلي د پټ ساتلو مسوول نه-ګانه، بلكې له ده سره د لوى ناموس د خوندي كولو سودا مله وه چې آرام ته يې نه پريښود .

دومره وسله او دومره ملګري يې نه لرل، چې په مخ غلـــيم ور وخيژي . بس دا يې له ځان سره و پټېله ، چې تر مرګه به د سړك په غاړه د سين له وښو استفاده كوي او په لارې ټريدونكي غلـــيمان بـه وژني .

په شپه كې به له كلي راكوز شو ، خابنت به يې ځان د سړك خواته راورساوه . په اوبو به ګډ شو او د غاړې د وښو په پناه كې به يې د لارې خارنه كوله ، چې كوم روسى جيپ يا د ګزمې ټينګ به يې وليد، چې

تیریږي، توپک به یې ورته په زخه کې او له دوزو سره به یې سر په وښو ننوښت. په ووړې به اکش روسان د ګرمې له امله د تینګ پر بام ناست وو، چې ده یکې خپله برخه بنه کولای شوای.

روسانو به شاوخوا دېرې دوزې وکړې، په اوبو او وښوکې پټ عبدالعلي به یې په څوقدمه کې نه لید. درست ووړې یې په دغه توکه تېرکړ - د اسې هفته به کمه وه، چې ده به بنکار نه وکړې؛ البته د خپل کمین ځای یې همیشه بدلاوه. له «خنجانه» تر «دوشي» او له «دوشي» تر دېره حده په روسانو محکه سره شوې وه، خو هیڅوا ته پته نه لګیده چې د دومره خطرناکو اوبو لوبغاړې بس یو ځوان دی او دومره په ځان غاوره پوځ له یو عبدالعلي، څخه پکښو دی.

د محکې کړې چې یې هرځومره زیاتولې-په هغه پیمانه یې تلفات دېرېدل. روسانو په اوبه لاره هوایي ځارنه هم شروع کړه، خو د سین د اوبو اوتتو وښو له برکته هغه هم ناکامه شوه.

چې مني هوا سره کړه، د عبدالعلي بنکارونه لږ شول- ځکه چې روسان نور د تینګښو په باموښ نه کښاستل او له ده سره له عادي توپک نه سېوا بله وسله نه وه. له بلې خوا اوبه سړې شوې، دېر وخت په اوبو کې تېرول هم ګران کار و، خو د ده زړه لا په غلیم نه و سوې شوی، که به هرڅه پټ ورته وروړ وویل، چې اوس دا لوبه پرېږده، دده په زړه نه کښاسته- که اوکه و که سوکه وا تر دېره وخته به یې د روسانو لار خارله.

یوه ورځ روسي الوتکې راغلې او د سړک د غاړې په سین یې بمونه

راکټونه او په لس ګونې زره د ماشینګنو مرمۍ وورولې . د هرچا دا یقین و، چې د عبدالعلي به نخښه هم نه وي پاته ، خو خدای پاك دمجاهدینو ساتندوی دی ؛ ماسپښین ، عبدالعلي روغ - رمټ کلي ته ستون شو.

بله ورځ روسانو د سین د غاړې وچ شوي وابنه هم وسوځول. عبدالعلي ته پناګاه نه شوه پاته . هم ورته بنکار مشکل شوی و - هم یې د روسانو بې غمه ګشت وګام نه شو زغملای ؛ بیګا یې له ځان سره بله نقشه طرحه کړه.

دوه درې تنه د زړه یاران یې له ځان سره مله کړل . چې شپه به شوه په اولسوالۍ به یې خو ډزې وکړې ، بیا به لاړل په نژدې کلیو کې به یې آرام وکړ . روسانو او پرچمیانو به تر سهاره په لس ګونې زره مرمۍ وویشتلې سباته به هیڅ هم نه وو ؛ دا لوبه یې درېست ورځې وروسته جاري وساتله .

یو وخت د څه لارښې کار له پاره «کابل» ته راغلی و اوچې ما ددې کار له ګټې وپوښتنه وکړه عبدالعلي په خپله ساده اما له غرور ډکه لهجه راته وویل : درې ګټې لري :-

- اوله دا چې هره شپه یې کافي مصرف کیږي .

- دوه یمه دا چې په دښمن شپه ناآرامه تیره کړي ، خو ارزي ؟

- درې یمه یې لا دا چې اوس د ورځې هم له ډاره له اولسوالۍ نه وځي او شاوخوا کلي یې له شره په امن دي .

شپې - ورځې په میاشتو او کلونو بدلې شوې نه پوهیږم چې عبدالعلي به ژوندی وي که نه ؟ او خدای خبر چې اوس یې دښکارونو طریقه بدله شوې وي که څرنګه ؟ دوه پوهیږم چې :

د ځوانانو ځوانمردي په لښکر منه وي

مټ یې هر کله یواځې په خپل ځان شي.

ورزیده اند) در حالیکه خود نشستند، گفتند : اگر از ما اطاعت می کردند، کشته نمی شدند ، بگو ! از خود مرگ را دفع کنید اگر (در ادعای تان) صادقید . »

تفسیر :

اگر تدابیر شما، ای عناصر منافق ! میتواند باعث نجات از ان مرگ باشد و زندگی تانرا تامین کند ، باید هرگز مرگ بسراغ تان نرسد و زندگی تانرا تهدید نکند .

این گروه ضعیف النفس همه چیز را از زاویهٔ منافع مخط دنیوی می سنجند ، اگر لازمهٔ اقدام مشخصی، تلاقی با خطر و تصادم با ارهاب و ارعاب دشمن بوده ، احتمال تلفات مالی و جانی در آن متصور باشد، هرچند اقدام مذکور فریضهٔ منصوص و قاطع باشد، از توسل بآن متنفر و منزجر اند و از ترکه آن راضی و خوشنود، ولی اگر در همین اقدام منافع و مطامع مخط دنیوی مضمر بوده و دیگران بآن رسیده اند، از فرط حسرت و ندامت با اندوه جانکاه و جانفرسا روبرو می شوند .

قرآن عظیم الشان می فرماید :

ومن الناس من یقول امنا با لله فاذا اوذی فی الله جعل فتنة الناس کعذاب الله و لئن جاء نصر من ربك لیقولن انا کنا معکم او لیس الله باعلم بما فی صدور العلمین .

(سورهٔ العنکبوت : ۱۰)

ترجمه :

مشاعره

د مجاهدو افغاني ليکوالو او شاعرانو د ادبي جرګې پنځمه مشاعره د ۱۳۶۵ کال د وري پر څلورمه نېټه لکه د تېرو غونډو په مرکزي اردو بورډ - پېښور ځایکه کې وشوه .

د غونډې په ابتدا کې بناغلي حکمتجو د قرآن عظیم الشان څو مبارک ایتونه تلاوت کړل او بیا د جرګې منشي بناغلي محمد آصف صیم، د نوي کال په مناسبت د مجاهدو افغاني ليکوالو او شاعرانو د ادبي جرګې پیغام محترمو حضارو ته واوروه، چې د پیغام مکمل متن دا دی :

بسم الله الرحمن الرحیم ؛

- د تاریخي اوانقلابي افغانستان د ربړیدلي ، خوړیدلي، رڼیدلي سوځیدلي ، ځنډیدلي او راغلي نر او غیرتي مسلمان ملت پر ټولو او ټولګه ولاړو نماینده شاعرانو، لیکوالو او د فرهنګي سنګر د

تورځنو سپاهيانو !

مرانې، هوډ، افغاني ننګ او د قلم رنګ ته مو سلام !

تاسې په حس کړې او انګېرلې وي ؛ خو موږ د خپل ډاډ او تسل له پاره درنه پوښتنه کوو :

آيا تاسې پوهېږئ ، چې تاسې د خپل بې کسه او بې ځوکه سرتېرې اولس د نېکړيو ارمانونو کعبه ياستئ ؟

تاسې انګېرلې ده ، چې د خپلو لکونو بېګناه او معصومو ټيټانو د سبا ټي برخليک مسوول او متعهد هدا تاسې ياست ؟

دا مو احساس کړې ده ، چې دا په لاس کې نيولې قلم مو د هغو لکونو کونډو ، بوږو او ووړو مړيو د پټ او عزت د ژغورنې په خاطر په خپلو سرو او ايشنده وينو لمبيدل غواړي ، چې د وخت اهريمنان او د زمانې روهي فرعونان تش په دې خبره ورته په اوبو کې خوښې کيږي ، چې : دوی وې ددغې يوه ننګيال ، پټيال او مېرنې اولس مينديې ، خوينديې او پت دي ؛ چې د دوی د انټرنيشنلستي جنت مصوران يې په ګور کې هم په خلوري کړي دي ؟

او ای د خپل مستضعف اولس د وينو د سمندر د څپې نله بېړۍ ماهيګيانو !

تاسې انګېرلې ده ، چې ستاسې د شهکار او دوراښان قلم د وينې په هر څاڅکي يواځې د مسلمان نه ، د نړۍ د هرکونج د مستضعفو او نتليو پرکنو برخليک ليکه شي ؟

او آيا دا مو تصور کړې ده ، چې ستاسې يوه شيبه غفلت او د مسؤوليت نه احساس د انساني نړۍ راتلونکی نسل د مرګ په خوب ويده کوي ؟

نو :

که مو د درسپارلې حساس تاريخي او سياسي مسوولیت په احساس کې لنډون او تقصير نه وي کړې ، او که مو د خپلې انقلابي توانې په وړاندې درسپارلی درېځ پېژندلی او تېنګ کړې وي ، او دا ډاډه يو ، چې پېژندلی او تېنګ کړی به مو وي .

نو راځئ !

سر له هدې ننه ، چې د طبيعت په يوه رنګين موسم (پسرلی) کې ساه اخلئ د زمانې له ځغلند نيلي سره د خپل مسؤولانه يون واکې تېنګې کړو ، چې د سبانيو د پېغور نه شو.

راځئ ! چې د ادب غشی په يوه هدف پسې غشی کړو .

نوی کال مو د زړو هيلو په بيا تاندولو بختور !

په دې درنده مشاعره کې ، چې صدارت يې د الحاج غلام فاروق چشتي په غاړه و ، بناغليو (رفيع ، هېش خليل ذيغم ، هکار ، ساهو ، حکمتجو ، غمخور ، نثار ، دروېشيار غيرت ، اکبر ، محب ، پيغام ، تسکين ، ننګيال ، پسرلی ، کوتوال عطايي ، سيمسار ، چشتي ، جمال راسخ ، زماني ، امان ، ملاتړ ، رنځور بريمي ، اسرار صافی او غروال) خپل جهادي اشعار قرات کړل.

د دوتنې تصویر :
د ننګونې او جنګونې په بنار (کابل) کې
د محمد جان خان واټ یوه برخه .

د دوتنې د ورځپاڼې ځ تصویر :
د سره پوځ د بې شمیره جنایاتو او ځپاونو یو
ژوندی مثال .

خطاط : نورالحبیب نثار

Monthly

SPEDE

Vol II No. 9
April 1986

P.O. Box 665
Peshawar Pakistan

« از جملهٔ مردم کسی چنان است، که گوید : ایمان آوردیم بعد چون در راه خدا[۴] اذیت شود، فتنهٔ مردم را به مثابهٔ عذاب الٰهی می‌شمارد، و اگر نصرت پروردگار تان بیاید، گویند : ماحتماً و قطعاً با شما بودیم ، آیا خداوند[۵] به آنچه در سینهٔ عالمیان است دانا تر نیست ؟ »

تفسیر :

مشاهده می‌کنید، که عناصر منافق همهٔ مصائب، دشواریها و اذیتهائی را که حزب خدا[۴] بطور معمول و طبیعی از ناحیهٔ مزم قبل می‌کند و در راه رسیدن به هدف بآن روبرو می‌شود، عذاب الٰهی دانسته، در اثنای مواجه شدن جنبش با دشواریهای مذکور استدلال می‌کنند که این همه مصائب در واقع نتیجهٔ عدول و انحراف جنبش از مسیر اسلام و خط مکتب است ، گویا بنا بر ارتکاب جرایمی چون قاطعیت ، عدم سازش و انعطاف اعمال سیاست، تشدد و خشونت علیه دشمن ، اقدام بی‌وقت به مبارزهٔ مسلحانه ... جنبش را با این سرنوشت روبرو ساختند . ولی اگر حزب خدا[۴] در روشنائی همین پالیسی و طی اقداماتیکه عناصر منافق آنرا محکوم نموده و در آن شرکت نورزیده اند به پیروزیها و موفقیت ها نائل می‌شود، در آن صورت این گروه موقع طلب و استفاده جو، با تمام قوا و نیرو سعی می‌ورزند، تا ثابت کنند، که در امر تحقق این پیروزیها و بدست آوردن این افتخارات ، سهم فعال و نقش بارزی داشته

انه ، گویا ایشان خارج ان سنگرها و دور از معرکهٔ کشمکش و تصادم، با وجود عقب نشینی شان از میادین جهاد ، کارهائی به نفع پیروزی اسلام انجام داده اند ، که مجاهدین خفته در سنگرها و شهدای گلگون کفن معارك جنك با قطرات خون شان و با ایثارگریها و خود گذریهای شان نتوانسته اند انجام دهند .

امتناع این گروه فراری از شرکت در تصادمات بنابر عدم استطاعت شان نیست بلکه عدم خود داری می ورزند .

چنانچه قرآن می فرماید :

و اذا انزلت سورة أن امنوا بالله و جاهدوا مع رسوله استأذنك اولوا الطول منهم و قالوا ذرنا نكن مع القعدين .

(سورهٔ التوبه : ۸۶)

ترجمه:

« و چون سورهٔ به (این مضمون) فرستاده شود، که بخدا ایمان آرید و همراه با پیامبرش جهاد کنید . از تو مستعدین شان اجازت می خواهند و می گویند : بگذار ما را تا از قاعدین باشیم . »

این گروه فرومایه هرچند با استناد با اعتذار ننگین و کاذبانه باشد و هرچند در جهت کسب ترخیص از جنگ مرتکب دنائت و پستی شوند از اقدام شان از شرکت در جنك شده است ، مباهات می ورزند و متوجه نمی شوند

که منافقت شان باعث شد تا ازین سعادت بزرگ محروم شوند و این شایستگی را از دست بدهند که در صفوف عناصر مؤمن چون سپاهیان سربکف جنداللّه برزمند و معیت الهی را کسب کنند . از صفوف مجاهدین مؤمن رانده شدند و در پرتگاه نفاق سقوط نمودند .

عناصر مذبذب الایمان که منزل مقصود به نظرشان دور جلوه می کند ، دشواریهای راه را غیر قابل تحمل می پندارند اقدام به حرکت درین راه پر از عقبات ، طولانی و صعب العبور را هلاکت پنداشته خود را مستعد آن نمی یابند و برای توجیه عقب نشینی خویش به عدم استطاعت خود استناد می ورزند ولی خداوند از یکطرف استدلال آنان را تکذیب می کند و از طرف دیگر تصور آنها را غلط پنداشته ، می فرماید :

با انحراف ازین راه و با عدم حرکت درین خط با دست خود موجبات هلاکت و تباهی تانرا فراهم می سازید ، این مطلب در جای دیگری، چنین توضیح می شود :

وانفقوا فی سبیل اللّه و لا تلقوا بایدیکم الی التهلکة .

(سورهٔ البقرة : ۱۹۵)

ترجمه :

« و در راه خدا انفاق کنید و با دست خود ، خویشتن را در تهلکه میاندازید . »



محمد عارف غروال

دا څنګه پسرلی دی ؟

د سرو بمبو بارانو کې ، خوله خندا ته نه جوړیږي
د ګران وطن په غروني سرې سکروټې راوړیږي

دا څنګه پسرلی دی ، چې په ما باندې ماتم دی ؟
ژړا ده - انګولا ده ، ټول وطن باندې مې غم دی
شهید مې پې کفنه توروخاورو ته روان دی
د بنمن مې د اسلام له مځکه ورلو ته ارم دی
دا څه رابانديې وشول، لا به څه رابانديې کيږي ؟
د ګران وطن په غروني سرې سکروټې راوړیږي

تنا ده او برېښنا ده ، په ما اوږې ټندرونه
د خدائ په لوی جهان کې، له ما هېر شول بهارونه
غازي مې د الله په نوم، خپل س، لاس کې نیولی
په تش لاس پرزوي د د بنمن شوبلې او ټینکونه
د حق مقابلې ته سره خرسان کله ټینګیږي
د ګران وطن په غروني سرې سکروټې راوړیږي

سپرلی به په هغوی وي، چې خپلواک یې، خپل وطن وي
نه مرګ وي او نه ژوبله، خپل یې باغ - خپل یې ګلشن وي
زما په باغ و بن کې د سپرلي څه اش نه شسته
زما په شان به چېرې، د چا ژوند په ځنګدن وي ؟

په سپین مخ باندې اوښکې د یتیم مې چې ډېرې
د ګران وطن په غرونو سره سکروټې راوړې

د ۱۳۵۸ خزان د لاسه یې، تالا باغ و بوستان شول
ښایسته - بنکلي ګلونه مې نن توي په بیابان شول
ګلشن د ظلم باغچو ته، ګلبټونه یې تالا کړل
په چیغو او نارو باندې محروم تر یې بلبلان شول

د حق او باطل جنګ دی، ګګړه دی یې ژړې
د ګران وطن په غرونو سره سکروټې راوړې

بمبونو د ناپالم ګنډونکي مې کلي - کسور کړل
د ګل په شان وطن مې سره وحشیانو راته اور کړ
باغچې مې لولپه شوې، باندې اوري سره اوونه
یو څو تنو بې دینو؛ پر موږ پسورې د ا پېغور کړ

څو سره د افغانیت مې هیڅ زور ګیره نه تیټېږي
د ګران وطن په غرونو سره سکروټې راوړې

یا مرګه دی او یا ژوند دی، دا زمونږه فیصله ده
سپرلی به مو سپرلی کړو، دا مو ژمنه- دا وعده ده
دا غرونه- دا رغونه به، د دوی په وینو سره کړو
خپل باغ- بوستان به خپل کړو، پتېیلي مو پخه ده
سپین ږیرې او ځوانان له خپل خوارۍ ژړا نه تېروي
د ګران وطن په غرونو، سرې سنګرونه راویښېږي

که زه ټن د شلم قرن وحشت سره جنګ کېږم
که زه د دین له پاره له خپل سر- مال نه تېرېږم
که زه ټن د خوارۍ وطن، په غم کې لیونی یم
که زه د ګام په مینه، سر بایلم، خو ژوندی کېږم
ژوندي وینې ملتونه، له تاریخ ګله پتېږي
د ګران وطن په غرونو سرې سنګرونه راویښېږي

زما ټکیال ملته! ټوره شپه په تېریده ده
دا ستا د قسمت ستر ګه، ټن- سبا په راختونکې ده
سپرلی د ژوند به راشي، خو دا شرط ده غږیزانو!
یووالی رانه غواړي- بس خبره د پښتو ده
«غږوال» قلم په لاس کې، د وطن په غم ژړېږي
د ګران وطن په غرونو، سرې سنګرونه راویښېږي.

عبدالمتین تسکین

ای د سپرلو وختونو!

ای د سپرلو وختونو !
ای کلالو وختونو !
ستاسو کلونو نه ځار

ای د سپرلو وختونو !
زما زړګي ته راشئ
د ویر کورګي ته راشئ
ستړی ژوندون ګوری
حال د بډ ټون وګوری
اوښکې باران وګوری
لږ ما پریشان وګوری . . .

دا مړیدلې خونې
دا سوځیدلې خونې
دا په اور سوې چمن
دا تالا شوې ګلشن
دا درپه درې عزیزان
دا سره ګلونه خزان
دا غټ - واړه خوار و زار
دا خوار و زار ناکرار
دا په لکو یتیمان
دا وږي - تږي حیران
دا د اورونو ورځې
دا د ظلمونو ورځې
دا کړیدلې لحظې
دا ژړیدلې لحظې ...
دا څنګه هیږې کړمه ؟
دا څنګه تیرې کړمه ؟

نو : د سپرلو ختونو !
د ګلفوټو ختونو !
تنکو - پستو ختونو !

د خوښیدلو وختونو !
د خندیدلو وختونو !...
څومره ترنجو کې راغلئ
څومره تنکسو کې راغلئ
په جناړ- جګړو کې راغلئ
په وینو سرو کې راغلئ
توپ او تانکو کې راغلئ
اور او لمبو کې راغلئ
وير او سلګو کې راغلئ...
بنسه شو، چې راغلئ ! راځئ !
ای د سپرلو وختونو !
ای ګلالو وختونو !...
زموږ په جناړ ولګوئ
زموږ په ننار ولګوئ
توره- غوږ ځناړ ولګوئ
مات بل پرناړ ولګوئ...
ای د سپرلو وختونو !
د روس درتلو چیغې دي
د روس وتو چیغې دي
مات پې زورونه ښکاري

Afghan Resource & Information Center
ARIC

بسم الله الرحمن الرحيم

سپيدې

دويم کال ، نهه گڼه ، ۱۳۶۵ش-هـ ، د وري ۲۰مه
د ۱۹۸۶ کال د اپريل ۹مه

چلوونکی :
محمد صديق پسرلی

زمونږ پته :

G.P.O
P.O.BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

مات پې پوځونه بنکاري
مات پې توپونه بنکاري
مات پې تانکونه بنکاري ...
زور د افغان پې ولید /
زور د ایمان پې ولید
د جنګ میدان پې ولید
ناکام خپل ځان پې ولیـد ...
ای د سپرلو وختونو!
اوس نو، راوړئ ګلونه
اوس غوړوئ ګلونه
ای ګلالو وختونو!
ستاسو ګلونو نه ځار
ستاسو وختونو نه ځار
ای د سپرلو وختونو!

رهپیما
برج حوت ۱۳۶۴
حیدرآباد

بهار زادگاه

به یاد می آیدم
بهاران میهنم
زادگاهم، جانم، تنم

تیره ابرهای خشمگین
در پهنای روح بهاران
بدست غیب

چه به ناز می آمد
آرام - آرام
از متن
انجماد زمستان

چه زیبا بود و باطراوت
انبوه
لشکر سبز گیاهان
در صلح و صفا
شکوفه های ارغوانی اش
در دل ابرهای خاکستری اش .

امان‌الله ساهو

د پرد پسې پسې

لکه چې ستورې وړېځې په آسمانونو کې ځي
لکه وږمې د بهار چې په باغونو کې ځي
یا ترهیدلې غږځه په غږ- رغونو کې ځي
که دلته راشي بهار، زه به ځانه کړمه چې
د پر لرې- لرې ورنه، په وطنونو کې ځم

که دلته راوړي بهار چمن- چمن ګلونه
څانګې غوټې وسپرې شي ټول وطن ګلونه
آسمان راووړي لمن- لمن ګلونه
زه د خوښۍ سمندر، د غوږتنګو دلاسه
لکه مچیوړه ځپه، په ساحلونو کې ځم

ملګرو څه به یې کړم؟- که دلته راشي بهار
سود به مې څه پرې وشي؟- که ټول زما شي بهار
مګر دې سوي زړه له مې میسا شي بهار
یو خوب وخیال دی راته، نور به یې څنګه ګڼم؟
په ټهرو ورځو- شپو کې، په رنګو پلونو ګرځم

چې به له بامه و دره لاله راوښکوکيدل
چې د آسمان ستوري به ښکته راوڅريدل
چې په آبدان به غاړل شونډو کې وموسيدل
څومره ښايسته و دريغه، هغه زمانه پيرلي
نن ورته لرې د ژله زړه، له حسرتونو ګرځم

بهاره ستا ګلونه ته زه ګټلی نه شم
ستا په راتلو بهاره! خوشالیدلی نه شم
ستا د راتلو هر ګل تاته ویلی نه شم
شي مې تن سترګو- سترګو ستاد هر ګل پاڼه لیدو
لکه چې پل ښ دومه، او په قربونو ګرځم

بهاره مه راځه مته! وخت د ګلونو نه دی
اوس چې بهیږي وینې وخت د رنګونو نه دی
زړګی مې مه پسغوه د هوسونو ځنه دی
اوس به نوخه وکړمه! ستاد بنایست ننداره
چې لکه څرېکه همیش، په پرهرونو ګرځم

پرېږدئ چې وژاړمه لکه ډېوه د مزار
پرېږدئ چې توی کړم اوښکې لکه وریځ د بهار
نه شته ملګرونه شته هیڅ ځای سکون او کرار
اوښکې په څنګه ښې دي، بنایې سکون ورکړي
زه به تري لرې ساهو-! په هېواد ونو ګرځم

زرنوش شهاب

د شهید افغان ناوې !

د عظیم پښتو ادبي جرګې مشر سکرټر ښاغلی زرنوش شهاب درملاکند.
ایجنسۍ د ټاټنې، په ښکلې او ښېرازه سیمه کې زېږیدلی او په هدې ماحول کې له شعر او ادب سره اشنا شوی دی. ښاغلی شهاب څوارلس جوماته سبق لوستی او نن- سبا د ښوونکې په توګه کار کوي. هغوی ۱۹۵۸ کال څخه شاعري پیل کړې او په کښو ادبي رسالو عجاو او اخبارونو کې یې کلام وخت په وخت شایع شوی دی. دوی د شاعرۍ ترڅنګ انشاییه او مقالې هم لیکي. شاعري یې چنه، خوږه او په بلابلو صنافو (نظم، غزل، ټیکی، سندري لوبې او ...) مشتمله ده. دی علاوه پرېښتو د انکېزې ژبې لیکوال هم دی.
(اداره)

سحر وختي و، یوه پېغله وه، روانه تلله
ماشوم بچوري یې و ترخ کې، سرکړدانه تلله
شونډې یې وچې، زلفې سپورې یې په مخ خورې وې
په ملګرتیا کې د سوچونو، پریشانه تلله
د زړه په کور کې یې، مېشته لکه غمونه چې
په نصیبه کې رسیدلي یې، فکرونه چې وو

په هر قدم کې یې خاموشه تمنا پټه وه
هرې سلګۍ کې یې، د نان د کهٔ موسکا پټه وه
چېرته خواخوږي ته یې، حال بنکاره کول غوښتل
پښتنه پېغله وه، په زړه کې یې، حیا پټه وه
د غږ په سیمه کې یې زېری دسکون لټاوه
په کوهستان کې یې بڅړی د ژوندون لټاوه

په هدیره کې دیوه قبر خوا ته کښاسته
یوه غنچه یې د ګلونو پې هم کښېنود له
د وړه لاسونه یې، کرل پورته، په دعا باندې
بیا یې، یو څو خبرې وکړې، په خندا باندې
وې یې: سر تاجه! مبارله دې شهادت وې ستا
د ملایکو په زبان دې هم صفت وې ستا

ژوند دې قربان کړی، د وطن په سرحدونو باندې
د پاکې خاورې د عظمت، په عزتونو باندې
زه ستا د لاسه، چې همځولو کې سردار ه یمه
د شهید ناوې یمه، دېره عزت دار ه یمه
دا ستا ماشوم ته به هم داسې تربیت وکړم
دا ستا په لاره به، د تلو ورته جرات وکړم

تا په سرو وینو د میرو نه ګلستان جوړ کړو
حیدري چیغې دې د بنمن باندې لرزان جوړ کړو
زهب و زینت دې د تاریخ، په خپل ایمان جوړ کړو
تولې دنیا کې دې تاریخ، د وروړ افغان جوړ کړو
زما شهیده ! ستا عزت او بادګې ته سلام
ستا په جنت کې، بې مثاله خوښحالی ته سلام

میدانِ جنګ ته، چې شي ګډې حیدري لښکرې
بیا ټینګیدی شي ورته کله ؟! لا دیني لښکرې
چې د تکبیر نارې شي پورته، په میدان کې د جنګ
توپې ـ توپې شي د «کارمل» او د «روبي» لښکرې
«شهابه !» دغه د اسلام د صداقت غښې دي
د مسلمان د وروړولې او اخوت غښې دي

نورالحبیب نثار

غزل

ما چې مننې غزغزې وې، ستا دمینې په تور
مدام مې دوړه سترګې سرې وې، ستا دمینې په تور

څه که نیکښه مې ساتلې د بابا، تورې وه
څې چې راته ښکاره ښکاره وې، ستا دمینې په تور

ما به لیدې په تصور کې داسې قافلې
د زړه په سر اړې-اړې وې، ستا دمینې په تور

تنده مې ځله ګرموې؟ دا نامحان مور مړې
زړه ته راښکاره شوګیرې وې، ستا دمینې په تور

ولې دې خ راځنې واړاوه بې ننګه اشنا؟!
زما د زړه مراندې ځوړې وې، ستا دمینې په تور

مګر «نثار» دې د ستانه وو بې رنګې کړې وه
چې بې په برخه مضرې وې، ستا دمینې په تور

امان الله - نصرت

۲۶ - ۱۰ - ۱۹۸۵

سره اوړونه

په زړګي مې پرهرونه د ستم دي
راشئ وګورئ ! داغونه د ستم دي

هرې خوا ته پسرلی، په ما ماتم دی
څه ترخه غوږ ته وختونه د ستم دي

د ظالم د بښن له لاسه آوار شوم
په نصیب مې سره اوړونه د ستم دي

هغه ګل چې ما د زړه په وینو لوی کړ
اوس د بېرې پرې خزانونه د ستم دي

ای د شین آسمان خاونده حال مې ګوره!
هره خوا آه او ویرونه د ستم دي

بیا د وخت فرعون، تېغ په لاس وژل کړي
په انسان جوړ قیامتونه د ستم دي

د نصرت په زړګي په سرو لمبو کباب شو
هم په خوله کې بې آهونه د ستم دي

محمد میم عزیزی

میلهٔ سخی

ماه حوت رخت سفر بسته بود و انتظار ورود نوروز بود تا تمام آلام و غم ها را تسلیم اش دهد، و خود با دامن پر خون بسوی ملکوت رود . آفتاب آخرین نشانه های حوت را آهسته-آهسته آب میکرد و دودهای بخاری آرام- آرام ان راه دود کشها به غاطر ورود بهار در هوا می رقصیدند .

مادر ، قسیم ، از اتاق سرد خود برآمد ، مرغهایش را بلند- بلند صدا زد . ناگهان یك جوره مرغ سبزواری و یك دانه مرغ سفید بسویش دویدند . مادر قسیم سوختگی های نان را که در دستمال سیاهی پیچیده بوده ، برایشان انداخت و خود بطرف خانهٔ مرغها روان شد . بعد از لحظهٔ کوتاهی، دوباره باز گشت. مرغها با دیدن او، باز هم بسویش دویدند، اما مادر قسیم این بار با قهر تمام، مرغها را از خود دور کرده ، ابروهایش را بالا

فهرست

شمره	مضمون	لیکوال	مخ
۱	تفسیری ان آیات قرآن حکیم	—	۳
۲	دا څلکه پسولی دی !	غروال	۱۴
۳	ای د سپرلو وختونو !	تسکین	۱۷
۴	بهار زادگاه	رهپیما	۲۱
۵	د پردیسی پسرلی	ساهو	۲۲
۶	د شهید افغان ناوې	شهاب	۲۴
۷	غزل	نشار	۲۷
۸	سره اوږونه	نصرت	۲۸
۹	میلهٔ سخی	عزیزی	۲۹
۱۰	هفه سپین شی	حیدرعلی	۳۷
۱۱	په بل هېواد کې	روحانی (ژباړه)	۴۳
۱۲	ارمان پې پوره شو	رحمانی	۵۰
۱۳	له ښوونځی نه تر...	غیبه وجدی	۵۶
۱۴	یوه خا طره	ذبیح الله	۶۳
۱۵	د هرش جنازې	رښتون	۷۰
۱۶	د افغانستان مېرنې اولس	فصیح السان	۷۹
۱۷	چار بیته	عرفان ختک	۸۲
۱۸	لنډۍ	—	۸۴
۱۹	ستا د لوړونو په ارمان یم	عصمت قانع	۸۸
۲۰	د مهاجر شاعر خوب	شپون	۹۳
۲۱	پیا میران د روغین	نگارگر	۹۶
۲۲	د زېرې په ټه	زرگه	۱۰۲
۲۳	د لمر بانگه عدالت	الف - ری	۱۰۴
۲۴	د دشتك بنكاري	پسرلی	۱۰۶
۲۵	مشاعره	—	۱۱۰

چیزی دارند و یا خیر ؟ اما چیزی نگفت و خاموش ماند . فضای خانه را سکوت مبهمی فراگرفته بود ، اما دیری نگذشت که این سکوت پایان دخترك همسایه شکست ، که برای مادر قسیم گفت :

« خاله ! مادرم گفت که همو لیفه زود بدون که هفتهٔ دگه عروسی همشیریم اس . »

مادر قسیم آهسته سرش را بلند کرده گفت : « به‌چشم میدوزم ، مگم مادرته بگو، که تاد گلم روان کنه ، تارش کم اس . »

دخترك همسایه چیزی نگفت و از خانه برآمد . مادر قسیم سرش را دوباره پائین انداخت و به دوختن شروع کرد .

گپ دخترك همسایه که گفته بود « هفتهٔ دگه عروسی همشیریم اس !! » چون سیلی محکمی کنار گوشش خورده بود صورت آغشته بخون شوهرش را روی لحافی که در دست داشت افتاده میدید ، یکباره اشك در چشمانش حلقه زد و دانه-دانه به ریختن شروع کرد .

اما به یادش آمد که بابهٔ قسیم در حالیکه جان میداد برایش گفته بود :

« مادر قسیم ! گریان فایده نداره ، فکرته طرف قسیم بگی، که او هنوز طفل اس . »

سرش را بلند کرد و به طرف قسیم نظر انداخت، قسیم هنوز همسرش را روی زانوهایش داشت ناگهان او را در آغوش

چیزی دارند و یا خیر ؟ اما چیزی نگفت و خاموش ماند . فضای خانه را سکوت مبهمی فراگرفته بود ، اما دیری نگذشت که این سکوت بارآوران دخترك همسایه شکست ، که برای مادر قسیم گفت :

« خاله ! مادرم گفت که همو لیفه زود بدوز که هفتهٔ دگه عروسی همشیریم اس . . »

مادر قسیم آهسته سرش را بلند کرده گفت : « به‌چشم میدوزم ، مگم مادرته بگو ، که تاد گلهم روان کنه ، تارش کم اس . »

دخترك همسایه چیزی نگفت و از خانه برآمد . مادر قسیم سرش را دوباره پائین انداخت و به دوختن شروع کرد .

گپ دخترك همسایه که گفته بود : « هفتهٔ دگه عروسی همشیریم اس !! » چون سیلی محکمی کنار گوشش خورده بود صورت آغشته بخون شوهرش را روی لحافی که در دست داشت افتاده میدید ، یکباره اشك در چشمانش حلقه زد و دانه‌دانه به ریختن شروع کرد .

اما به یادش آمد که بابهٔ قسیم درحالیکه جان میداد برایش گفته بود :

« مادر قسیم ! گریان فایده نداره ، فکرته طرف قسیم بگی ، که او هنوز طفل اس . »

سرش را بلند کرد و به طرف قسیم نظر انداخت ، قسیم هنوز همسرش را روی زانوهایش داشت ناگهان او را در آغوش

کشید ، در حالیکه میگریست او را در آغوش اش می‌فشرد. قسیم نمیدانست چرا مادرش میگرید ، او در آغوش مادر خاموش بود و با دستان کوچك خود اشك‌های مادر را از صورتش پاك می‌کرد .

مادر قسیم آهسته- آهسته گریهٔ خود را خاموش ساخت دوباره به دوختن لحاف شروع کرد . قسیم دوباره درجایش نشست و سرش را روی زانوهایش گذاشت ، اما هرگز نتوانست از مادر بپرسند، که چرا می‌گرید .

بعد از لحظهٔ بار هم احساس گرسنگی کرد و بالای مادر صدا زد :

« مادر ! بز شی چه پخته کدی ؟ »

مادرش بطرف وی دیده ، گفت : « بچیم ! تا بالی خوچیی نکدیم ، باش که مرغاکتم بته ، برت پخته میکنم . » یکباره به یادش آمد، که امشب شب نوروز است ، باید مرغ سفید ش را حلال کند و رسم نوروزی را بجا آرد . اما مرغ سفید ش زیادش تخم میداد ، ازین کار منصرف شد .

قسیم چیزی نگفت و انتظار ماند، تا مرغها تخم بدهند ناگهان گپهای همبازی اش « رفیق » به یادش آمد ، که روز گذشته برایش گفته بود :

« قسیم ! از مادرت پیسه بگی که روز نوروز بریم ، میلشی، اسپکهای چوبی سوار شویم . » یکباره ذوق تمام وجودش را فراگرفت

با خوشوقتی زیاد مادر را صدا زده گفت : « مادرجان ! صباً نوروز است ؟»

مادرش درحالیکه مشغول دوختن لحاف بود، گفت : « آن بچیم میگن ، که نوروز است.» و آهسته باخود گفت: « آن روز نوروز اس، مگم نی بر ما !! »

باز هم صدا کرد : «مادرجان ! مره «رفیق» گفت ، که ان مادرت پیسه بگی، که روز نوروز بریم «میلهٔ سخی» ، اسپکهای چپل سوار شویم ؛ مادر! تو مرا پیسه میتی ؟ » مادر قسیم حیران بود که از کجا برای او پول دریافت کند . ناگهان دخترك همسایه با دو کلوله تار داخل خانه شد ـ مادر قسیم رو به دخترك کرده گفت :

«مادر ته بگی، که مه لیف تانه یکروز باد خلاص میکنم ، مگم یك-ده اتغانی از همو اجورهٔ لیف بر مه بتی، که کار دارم . باز باقیماندیشه، لیفه که خلاص کدم بتین !...»

دخترك همسایه دوباره رفت ، ولی به زودی بازگشته گفت :

« مادرم گفت : تا که لیفه خلاص نکنی ، برت پیسه نمیتم ! »

مادر قسیم زود ـ زود می دوخت، تا مگر بتواند لحاف را همین امشب خلاص کند ، سوزن را گاهی در انگشت اش می خلاند و زمانی هم روی لحاف . قسیم دید که مادرش چیزی نگفت و شاید

برایش پول ندهد ، گفت :

« مادرجان ! اگر مرغا تخم داد ، واره بفروشم و - پیسیشه بگرم . »

مادرش گفت : « بچیم ! مه نمی‌گم که نگی ، مگم بار چه ره می خوری ؟ »

با جرأت تمام جواب داد : « نان چای ! »

مادرش چیزی نگفت . قسیم آهسته و بی صدا بسوی مرغها رفت ، تا از ایشان خبری بگیرد ، دیری نگذشت که با خوشحالی نزد مادر آمده ، دو دستش را بر گردن مادر آویخت و دو دانه تخم را نشانش داده ، گفت :

« مادر ! بزُم ای تخما ره ده دکانا بفروشم ؟ »

با تائید سخنش از طرف مادر ، تخمها را در بدل دو افغانی فروخت . دو افغانیگی را در لابلای پنجه هایش فشرده ، از مادر خواست ، تا برایش اجازه بدهد ، که فردا « میلهٔ سخی » برود .

مادر سوزن را آهسته در لحاف خلاند و قسیم را کنار خود نشانده ، گفت :

« تو خورد بودی ، که پدرته روسها ده روز سوم حوت شهید کدن ! . . . »

با شنیدن شهادت پدر ، دو افغانیگی از دست قسیم روی فرش اتاق افتید ، چشمانش راه کشید و روی صورتش غبار یتیمی نشست :

از مادر پرسید : « چرا پدر مه را روسها شهید کدن؟ »
مادرش در حالیکه بلند- بلند می‌گریست ، گفت : « او ره به خاطریکه مسلمان بود ، شهید کدن . . . . » او بار هم سوال کرد : « او ره ده کجا گور کدن ؟ »
مادرش او را در آغوش فشرده گفت : « قبل پدرت نزدیک میلهٔ سخی اس . سبا بخیر اول کتی مه، سر قبر پدرت برو، بان کتی رفیق، برو - اسپکهای چوبی سوار شو ! »
با مادر موافقه کرد ، دو افغانیگی را دوباره از زمین برداشت و در آغوش مادر بخواب رفت .
ماه حوت سفر کرد و نوروز با قدمهای آرام- آرام در خانهٔ شان داخل شد، تا قسیم را از خواب خوش بیدار ساخته باشد! اما او در انتظار نوروز نشسته بود و با ورود نوروز تبسم سردی روی لبانش دوید .
آری ! نوروز آمد و قسیم با مادرش یکجا راهی گور پدر شدند - از بالای قبرها که در آغوش زمین بود گذشتند. ناگهان قسیم بالای گوریکه سبزه ها و چند دانه گل لاله روی آن روئیده بود ایستاد ، یکباره اشک ها روی گور را چون باران بهاری پر نم ساخت مادرش و قسیم، هردو آنقدر گریستند ، که دیگر سر چشمهٔ اشک در چشمان شان خشکید .
بعد اً قسیم دستان کودکانهٔ خود را به هوا کرده ، چند چیزی زیر لب خواند و دستان خود را در حالیکه بر رخ می‌کشید

می خواست بگوید : پدر ! نوروزت مبارك !! ... اما فریاد برآورد : پدر ! شهادتت مبارك ! ....

آنروز مادرش درخانه ماند و قسیم درحالیکه دوافغانگی را در دستانش می‌فشرد، به سراغ رفیق رفت، با رفیق یکجا بسوی میلهٔ سخی روان شدند .

در طول راه جلبی های رنگ-رنگ ، ماهی‌های پخته شده وغیره خوراکه ها نظر قسیم را به خود جلب می کردند ، بطرف اسپکهای چوبی که میدید از خریدن آنها اجتناب میکرد .

دامنهٔ تپه سلام و رکابهٔ سخی را کالای رنگارنگ بچه‌ها و دخترکها چون دشتهای پُرگل مزین کرده بود ، همه‌جا را شور و غوغا فرا گرفته بود ، اسپکهای چوبی متواتر پُرخالی می‌شد و نفر مؤظف اش مکرراً صدا میکرد : « هلهٔ اسپکهای چوبی یك - یك قران .... »

قسیم و رفیق هردو کنار آن ایستاده بودند ، اسپکها می‌چرخید ، ناگهان اسپکها را نفر مؤظفش ایستاده کرد و بچه ها از روی آنها پائین شدند . رفیق دست قسیم را رها کرده روی یکی از آنها بالا شد و بالای قسیم متواتر صدا می زد : « بیا ! بس اسپ دگه تو بالا شو ! ... »

ولی او مات ومبهوت بسویش میدید ! اسپکها به حرکت آمد ، قسیم باز هم بسوی دوافغانگی اش نظرانداخت ناگهان نظرش را پیرمردی جلب کرد که روی « سبدی » گلهای

(بقیه ص ۴۷)

حیدرعلی

هغه سپین شی

هغه سپین شی، د ده پر ذهن داسې خپور و ، لکه د لمر په غیاب کې، چې تیاره پر دنیا خپره شي .

عبدالله به معمولي پوښتنې ته، په ډیر زحمت ځواب ورکاوه ، خو که به کوڅه کې هلکانو ورته وویل ، چې هغه سپین شی چېرته دی ؟ نو د ده شونډې به موسکې شوې او بې له څه سوچه به یې سمدستي ځواب ورکړ : « هغه سپین شی مې پلار وړی دی راوړې یې ! » او بیا به د ده پر شونډو نرۍ موسکا د هلکانو په خندا کې داسې محوه شوه، لکه شپه، چې د سحر په پلوشو کې پوښنا شي .

نور هلکانو به منډې وهلې، لوبې به یې کولې او مسخولیدل به ، خو عبدالله به غلی ولاړ و . هغه کول غوندې و . چې د نړۍ به ورپام شو، نو ویل به یې : « یتیم دی، یتیمان دغسې وي. » او

د مور به ورته ځینې وخت بې ارادې له خولې ووتل : « په مور د خدای امرې شوې دي » .

عبدالله به د پرې کمې خبرې کولې - آرام به و . « داسې به معلومیږو لکه فکر چې کوي ، خو فکر یې نه شوا کولای . شاید چورت به یې واهه - آیا چورت وهلو ته یې ضرورت درلود ؟ »

مور د هر نازاوه . د هغې یواځینۍ زوی و . جاهې به یې د نورو ترجامو بنې وې . بنه بنکلې سدرې به یې اغوستې وه او د مغازې قیمتي بوټان به یې په پښو وو . په کلي کې صرف عبدالله داسې کوچنی و ، چې بایسکل یې درلود . ده چاته نه و ویلي ، چې بایسکل راته واخلئ .

ده هیڅ شی هم نه غوښتل . د دوی په خوږلو به یې صرف هغه وخت شروع کوله ، چې مور به ورته وویل : خوږ-زوبیه ! دوی سړې ! » . کله ، چې مور د لاس وشی خرڅ کړ او عبدالله ته یې بایسکل واخیست ، نو عبدالله صرف هغه وخت بایسکل ته ورنږدې شو چې مور ورته وویل : « بایسکل مې ستا د پاره اخیستی دی ، زده یې کړه ، پرې سپرزیه ! » .

یوه ورځ سحر د معمول په شان عبدالله د مور په غوښته کوټې ته ووت ، مور سور اسوپلی پسې وښوست او بیا په خپل کار لګیا شوه . دې ځای چاروګاوه ، چې د عبدالله غږ یې واوریده : « ادې ! زېری مې دریاندې ، ما ما راغی ! » . مور یې دا ډوه کاله خپل وږوږو نه وو لیدلي . وږوږ یې پخوا طالب و ، خو اوس یې په لرې غرونو

کې جهاد کاوه. دوه ګاله د مخه یې ږیره نه وه، خو اوس یې ښایسته یو موټی ږیره پر مخ وه. سپین پټکی یې په سر و. سپینې جامې یې اغوستې وې. توپک یې په اوږه و. مور د زوی خوشاله داسې خوشاله کړې وه، چې تر هر څه د مخه یې وروړ وپوښتو: عبدالله څنګه وپژندلې؟

- په دګر لوړانو وروپژندلم او بیا یې غاړې ته لاسونه راواچول نام خدا اوس غټ شوی دی.

د عبدالله مور غږګې خوشالۍ محسوس کړې. زوی یې ګرده ورځ د ماما څنګ ته ناست و، له هغه سره یې مینه کوله. هغه د ماما څنګ ته خوشاله ناست و، خو د دې خوشالۍ عمر لنډ شو. د قوې د رانګې آوازه خپره شوه او سبا ته یې مجاهد ماما بیا د سفر موزې په پښو کړې.

مور یې په زوی پورې د خاوند غم هېر کړې و. چې کله به پېژندویې ورته وویل: «دا پر غمونه مه خوره، ځان دې یو موټی کړه. د هر چا سا ټنډوی خدای دی. داسې خوارلان هم خدای ساتي، چې پر مینه یې سړي نه دی پاتې- ته لا بختوره یې. شکر باسه خدای زوی درکړی دی، لوی به یې کړي.....» نو دې ته به ژړ ورغله، ویل به یې: «زه د زوی غمو وخوړم. ما په ده پورې هغه ځوانیمرګي هېر کړي دی - ګوله بلا ده- لکه کوڼ هسې به درته ګوري نه به په خپله خبرې کوي - نه به د بل په خبره سم پوهېږي.....»

که به عبدالله د مور د اوښکو داږې هم ولیدې، څه

تفسیری از آیات قرآن حکیم

ویقول الذین امنوا لولا نزلت سورة فاذا انزلت سورة محکمة و ذکر فیها القتال رأیت الذین فی قلوبهم مرض ینظرون الیک نظر المغشی علیه من الموت فاولی لهم .

(سورهٔ محمد : ۲۰)

ترجمه :

« و مدعیان ایمان میگویند : چرا سوره ای فرستاده نشد (سوره ایکه در آن بقتال حکم شود) بعد چون سوره محکمی (واضح المعنی) فرستاده شود و در آن از قتال ذکری بعل آید بنگری کسانیکه در دل آنان بیماری (نفاق) است که بسوی تو می نگرند ، مانند دیدن کسیکه به سبب (سختی) مرگ به او بیهوشی رسیده باشد (حالت بیهوشی او را فرا گرفته

خامی تاثیر پې باندې نه کاوه . د هغه اړیکې له نورو سره او له شاوخوا سره شلیدلې غوندې وې . د سر لږ به داسې پښیده ، چې عبدالله نوروته اویل څه توجه وکړې . خو د مور به پې تل ده ته پام و . مور به تمامه ورځ د ده څار کاوه . هغې په دې وجه نه څاره ، چې بدکار به وکړي . نه - نه !! هغه کله هم بدکار نه کاوه . هغه اصلاً څه کار نه کاوه . سحر به د چاپو له څښلو وروسته تر هغو پورې ځای پرځای ناست و ، چې مور به ورته وویل : « د باندې ووزه ! له همځولو سره لوبې وکړه . » او بیا به پې ارادې عبدالله راولاړ شو د باندې به ووت .

عبدالله به د باندې له نورو هلکانو سره لوبې چټرته ولاړ و . د هغو څخې د لوبو ټه نه کیده او ، چې ورپام به پې شول ، ښو پوښتو به پې : هغه سپین شی چټرته دی ؟ او ده به همېشنی ځواب ورکړ : هغه سپین شی مې پلار وړی دی راوړې پې !

یوه ورځ پې مور ، برخې مکاله واوریده - اور پرې بل شو زوی پې کورته راوبالله او داسې پې وژړل ، چې عبدالله پې هم لږ - لږ متوجه کړ . د هغې ژړا او د درې کاله د مخه یو سحر ورپادیده ، چې مېرمن پې توپک پر اوږه کړ او دې ته پې وویل : « تن درې یه ده ، چې ولې ته د روس لښکرې راغلې دي - غټا راباندې فرض ده . تاپه خدای سپارم او کوچنی زوی په تا » . او بیا د عبدالله پلار له کوره ووت سپین بیرغ پې په لاس کې و . د غاړیانو څې ته رڼې و . درې کلن زوی پې د کور په دروازه کې ولاړ و او پلار ته پې وویل : بابا

زه هم حُم ! پلار یې غ راواړه ورته یې وویل : « زه ژر راګرځُم » . زوی یې بیرغ ته لاس ونیو - پلار یې په مطلب پوه شو ، ویې ویل : دا سپین شی هم راوړم .

او څو ورځې وروسته ، له دوی سره دوی په ګور د غم مابنام دامې راښکته شو ، نکه لمر ، چې لویدلی وي او جهان ټول مابنام - مابنام وي .

بقیهٔ ص ۳۱

تازه را نغاړه بود ، قسیم آهسته پیش رفت و دو افغانیگی - اش را گل های تازه خریده از لابلای بچه ها دور شد . او بسوی گور پدر می شتافت ، اما گاه - گاهی به عقب نظر می انداخت و بسوی اسپکهای چوبی - ولی از صداها و رنگ ها قدم به قدم فاصله می گرفت ، از بالای چند قبری گذشت و کنار گور پدر زانو زده ، گلها را روی گورش پر - پر کرد و شروع کرد به زار - زار گریستن - خیلی ها گریست بگر آهسته خوابش برد . در حالیکه سر را بالای گور پدر گذاشته بود ، تا زمانی خوابش برد ، که شام چادر سیاه خود را روی قبرها گسترده نبود ناگهان از خواب برخاست ، دید همه جا را سکوت فرا گرفته است - خواست برود میلهٔ سخی و اسپکهای چوبی سوار شود ، مگر به یادش آمد که دو افغانیگی اش را برای گور پدر گل خریده است .

اریښت هیمنګوی　　د محمد روحاني ژباړه

په بل هېواد کې

ټول مني جګړې روانه وه، خو موږ بیا جګړې ته نه لاړو. په «میلان» کې هوا سړه وه او تیاره ژر په خورېدو شوه، د سړک د غاړو څراغونه روښانه شول او له کړکیو څخه د سړکونو ننداره زړه وړونکې وه. هتیو ته نژدې د لوبې او شرط وهلو ټول اسباب ځوړند و. په کیدړو واوړې اوریدې او لکه یې ټُنډ باد بنوروې. د مرغانو بڼکې د باد او شمال له امله په بل غ اوښتې وې او باد رویې له غرونو څخه را بنکته کیدې... او څه سوړ ژمی و.

موږ به ټول، هره غرمه، په روغتون کې وو. روغتون ته ځوتیارې لارې جوړې شوې وې، د وې لارې د روډ په غاړه-غاړه راغلې وې، خولې څه اوږدې وې، بیا وروسته به یو پل راغی دا پل د روغتون دروازې ته چې نژدې و، دوه سوه پلونه

هم وو ، چې روغتون ته یې لاړې درلودې . په یوه پله باندې یوې ښځې ډیني کړې جنغوزې (جلغوزې) پلورل . مخې ته یې د سکرو سکروټې په ټغرې کې بلې وې . کله به ، چې چا جنغوزې ترې وپاړول داسې احساس به یې کاوه ، چې ګواکې لږ ځمه تودوخه یې ټرې وپاړودله . روغتون زوړ و ، خو ښکلی او زړه وړونکی . لویه دروازه او غولې یې درلودل . د زاړه روغتون ترڅنګ د خښتو یوه نوې ماڼۍ هم وه او موږ هلته هره ورځ سره لیدل ، د یو- بل درناوی موکاوه او خوږا مؤدبه وو ، خبرې - اترې مو هم مثل خوبې وې . ډاکټرانو او طبي ماشینونو هم کار راباندې کاوه .

یوه ورځ ډاکټر ما او زما د طبي ماشین خواته راغی او ویې ویل :

- « څکې له جګړې دې له څه شي سره مینه درلوده ؟ کومه سپورتي بوختیا دې درلوده ؟ » ما ورته وویل :

- « هوکې ، فوټبال . » ده وویل :

- « ډېر ښه ، که خدای کول بیا به هم فوټبال وکړې ، ټر پخوا به لا ښه فوټبال وکړې . » زما پښه په ګونډه کې خوب شوې وې او نه راتګ لیده ، نو له دې کبله ماشین کار راباندې کاوه ، چې ګوندې ګونډه مې ښه شي ، خو تر اوسه یې لا اثر نه و کړې. ډاکټر وویل :

- « دا ورځې به تېرې شي ، ته یو نیکمرغه ځوان یې ، یوځل به بیا د ښو لوبغاړو په څېر فوټبال وکړې . » یوه بل طبي ماشین

ته یوبل سړي پروت و ، چې یو لاس یې، د ماشومانو د لاس غوندې کوچنی پاتې و او وده یې نه وه کړې . کله چې ډاکټر د ده د لاس په کتلو بوخت شو ، ده ماته په مومکا- مومکا وکتل او ویې ویل :

-« او زه به هم فوټبال وکړای شم- ډاکټرصاحب ؟ » دې پخوا ډېر ښه تورزن و او مخکې له جګړې څخه، د ایتالیا د تورې وهلو په لوبو کې خورا نوموړی و . ډاکټر خپلې اداري کوټې ته ننووت او څو عکسونه یې راوړل ، په دې عکسونو کې ښودل شوي وو، چې د طبي ماشین په مرسته، د ده لاس ته ورته لاس، څنګه، څه ناڅه وده کړې وه . ناروغ سړي عکسونه، په خپل جوړ لاس ونیول ، او ویې ویل :

-« یو ټپي ؟ » ډاکټر وویل :

-« هوکې، په یوه کار خانه کې زخمي شوی و .» ناروغ په داسې حال کې، چې عکسونه یې بېرته ورکول ، ویې ویل :

-« عجیبه ده، عجیبه ده .» بیا ډاکټر وویل :

-« اوس باوري شوې؟ » ده ځواب ورکړ :

-« نه- نه » .

دې روغتون ته، درې نور ځوانان هم، چې زما همځولي وو راتلل. یوه یې غوښتل، چې قانونپوه شي- بل یې له نقاشۍ سره مینه درلوده او د بل ارزو دا وه ، چې یو سوټېری وي . او کله به ، چې موږ د ماشین له عملیاتو څخه وزګار شو ، نو په ګډه سره به

«کوفا» نومې کافې خانې ته ولاړو. کله به چې هلته ورتلو، خلکو به په کرکه - کرکه راته کتل. ځکه، چې موږ عسکر وو. کله ناکله به یو بل تن هم، چې پزه یې زخمي شوې وه راسره مل شو. پزه به یې تل په یوه توره ریښتینه ریتارې پټه وه. ده پزه نه درلوده او هلته را غلی و، چې بله پزه ورته جوړه کړي. کله، چې دی په حربي یوهنتون کې و، جبهې ته لېږل شوی و او هلته یې آن یو ساعت وروسته پزه زخمي شوه. داکټرانو بله پزه ورته جوړه کړه. خو دې پزې، له لومړنۍ پزې سره، ډېر توپیر درلود. بیا وروسته کوم بل هواد ته ولاړ او په کوم بانک کې په کار بوخت شو. وروسته له هغو وختونو څخه د یوه - بل له حاله نه خبرېدو. یوازې دومره خبرېدو، چې هلته همېشه جګړه روانه وه، خو موږ بیا کله هم جګړې ته نه ولاړو.

موږ تولو، یو دول عسکري ټبانونه درلودل، یوازې هغه ځوانکي، چې پزه یې په ریتارې پټه وه، کوم ټبان نه درلود، ځکه په عسکرۍ کې یې، داسې د پام وړ کار نه وکړ. بل ځوان، چې ژبې غوڼه خبرې او اوږده ببیه یې درلوده او غوښتل یې، چې قانونپوه شي، دې ټبانونه درلودل. په هغه وخت کې زموږ لیدنې - کتنې د غرمې له خوا په روغتون کې وې. همدارنګه د «کوفا» کافې خانې ته ولاړو، په تیاره کې به په قدم وهلو بوخت شو او سندرې به مو ویلې او کله ناکله به هم، په سرکونو او د خلکو په کټه - کوټه کې هغه - دغه خوا ګرځیدو - راګرځیدو. کافې خانې ته په ورتلو عادت شوې وو

بنکلی او تود ځای و ، کمرنګه څراغونه پکې بلیدل او په ځینو وختو کې به هیا هوی و اود سګرټ دود . د هوایونه یې په رنګه کاغذونو سمسور شوي وو . څه ښوني، چې هلته وې، ټولې مؤدبې او په خپل هیواد مینې وې او زه عقیده لرم ، چې په ایتالیا کې د دکانې خاوند ښوني تل په هیواد مینې وي .

ځوانان به لومړی، زما د مدالونو له کبله، د هر مؤدب وو او زما څخه به یې پوښتنه کوله ، چې د څه-څه کارونو په خاطر دا مدالونه راکړل شوي دي . ما به خپل برې لیکونه ، چې په بنکلي خط لیکل شوي وو ، ورښودل . خو ډیټا یې دا وه ، چې له دې کبله دا مدالونه راکړل شوي وو ، چې زه یو امریکایي وم . نو وروسته- وروسته سره له دې، چې د دې ښار په وړاندې سره یو لاس وو ، خو د دوی ناستې- والړې زما سره بل شانته شوې. که څه هم، زه د دوی ملګری وم . خو کله ، چې یې زما د تابعیت پاڼه ولیده نو بیا د دوی په ډله کې نه شمېرل کیدم .

زه بن کړو- وړو د هر توپیر سره درلود . زه توپي شوی وم او دا ډیټا هم ده ، خو دا یوه ناڅاپي پېښه وه . زما هیڅ زړه ته نه راویدل ، چې یو وخت به داسې شي- وړځې تېروم . کله به، چې د شپې له خوا کوټه تلو ، توره-تیاره به وه ، سړکونو کې به ګڼه-ګوڼه وه ، هوا به سړه وه ، هستې به تړلې وې او موږ به کوټې کاوه ، چې د سړکونو د څراغونو په رڼا کې ځانونه وګورو . زه له سړې څخه د هر وار یدم او کله به، چې پروت وم، سوچ به مې کاوه

او وېره به راپیدا شوه ، چې ښایي یوه ورځ به مې بیا جسبي ته ولږي .

هغه ډېر ټول مذاق لرونکي، خوا زېړ وو ، نو طبعه مې ځکه له هغوی سره، دومره ډېره نه لګیده . خو هغه بل ځوان، چې په لومړۍ ورځ ټپي شوی و ، داسې ښکاریده، چې ده هم هېڅکله نه شوای کولای ، چې په عسکري ګې وځلیږي او کله دې هم ومنل شي نو همدا وجه وه ، چې زما وېره جوړه وه ، ځکه چې زه او دی ډاډه له زېړو څخه نه وو .

بل ځوان، چې خوا تورزن و، هومره بې پروا نه و او ډېر وخت به لګیا و، چې لیک دود راوښیي. دا ، چې ما په ایتالیایي ژبه خبرې کولې شولې ، ده به ته ستایلم او موږ به ته خبرې سره کولې . یوه ورځ مې ورته وویل، چې د دوی ژبه ډېره آسانه ده او کوم جالب څه مې یکې ونه لیدل . هر هر څه په آسانتیا سره ویلی شم . ده وویل :

ـ « هو ، همداسې ده . نو ولې لیک دود، نه زده کوې، چې ته کار تري واخلې ؟ » زه لا وهڅیدم، چې دا ژبه بنه زده کړم. او ډېر ژر یوه شوم ، چې دا ژبه ساده نه ده او زده کول یې ډېر هاند غواړي . دی به ته طبي ماشین ته راتلو . خو په دې عقیده نه و ، چې دا ماشینونه به اش وکړي . وروسته وروسته ښکاره شوه ، چې ما لیک دود زده نه کړ . ده به ویل، چې نه ډېر احمق او ناپوه وم او له دې پښېمانه و ، چې له ما سره یې د وروګۍ

ژمنه کړې وه . يوه ورځ يې په دامې حال کې ، چې ماشين ته ناست و ، ما ته وويل :

ـ« که جګړه پای ته ورسيږي ، بيا نو ته څه غواړې ، چې څه وکړې ؟ » ما وويل :

ـ« زه به بېرته خپل هېواد ته ولاړ شم . »

ـ« واده دې کړې ؟ »

ـ« نه ، خو هيله من يم ، چې واده وکړم . »

ـ« ته لا ټر احمق هم ، څو پاڼې ښکته يې ، سړې بايد واده ونه کړي . »

ـ« ولې نه ، بناغليه «زيګنون» ؟ »

ـ« زيګنون» مې مه بوله ! »

ـ« ولې سړې بايد واده ونه کړي ؟ » ده په قهر سره وويل :

ـ« سړې بايد واده ونه کړي ، بايد يې ونه کړي . که څوک غواړي ، چې څه ونه بايلي ـ بايد بايللو ته ځان نژدې نه کړي . »

ـ« ولې به ، هر ـ هرڅه بايلي ؟ »

ـ« بايلي يې ! » بيا يې خپل لاس له ماشين څخه راوايست او په خپل وړانه يې کښېوده او وې ويل :

ـ« بايلي يې ، نور نو چوپ شه ! » وروسته يې غږ وکړ :

ـ« راشئ ، دا لعنتي ماشين وډروئ ! » بيا د ماساژ او

معاینې خوښې ته ولاړ . هلته یې له داکټر څخه وغوښتل، چې اجازه ورکړي، چې له تلفون څخه کار واخلي او دروازه یې وربېدې کړه. کله، چې بېرته راغی، زه ماشین ته ناست وم . د غاړې دستمال یې په اوبو کړ، خولې یې په مینځ کړه- زما خوا ته راغی، په اوږو یې لاس راکښود. او ویې ویل :

-« زه دېره بخښنه غواړم، زه باید قهرجن او بې ادبه نه وای، زما بنځه په هدې نژدې وختو کې مړه شوې ده، ته باید ما وبخښې ! »

-« اوه... ریښتیا ؟ ... زه ... زه په ریښتیا، چې دېر درته خپه شوم . » ده خپله بنکټنۍ شونډه، په غاښونو چیچله ودریده او ویې ویل :

-« دا دېره ... دېره سخته ده .» سترګې یې کړکې ته وښوله او په ژړا- ژړا یې وویل :

-« زه هېڅ نه شم کولای، چې له وظیفې څخه، ځان گوښه کړم بېخي نه شم کولای . » اوژړل یې، پورته یې کتل، د عسکرو په څېر ولاړ و . اوښکې یې په مخ روانې وې او شونډې یې چیچلې له ماشینونو څخه تېر شو او له کوټې ووت .

داکټر وویل ددې ځوانه بنځې، چې تر اوسه یې لا راوباده کړې نه وه او واده یې د جګړې تر خاتمې وروسته معطل و، د نارو غۍ له کبله مړه شوې ده . هغه بوائې یوځو ورځې ناروغه وه. هیڅوا گومان نه کاوه، چې دا سې پېښه به کېږي . زما مانګرۍ درې

باشد) پس وای ایشان را . »

تفسیر :

عناصر منافق در هر مرحلهٔ از مراحل کار ، مواضع و مواقف نادرست و بیمارگونهٔ شان اجتماع اسلامی را صدمه می‌زنند. این گروه که در تعهدات شان نسبت به اسلام و موازین آن صادق نیستند ، از اصول اسلام اطاعت نمی‌کنند و رهنمودهای آنرا بکار نمی‌گیرند ، در اثنائیکه مسلمین در مرحلهٔ اتخاذ پالیسی عدم درگیری مسلحانه با دشمن اند و تا هنوز شرایط مساعد و امکانات مناسب برای توسل به مبارزات مسلحانه فراهم نشده است مسئلهٔ درگیریهای مسلحانه را ، به نحوی عنوان می‌کنند ، که بزیان و ضرر نهضت منتج می‌گردد . مسئله را ، نه به این منظور عنوان می‌کنند ، که در پالیسی تجدید نظر صورت گیرد و نه به این خاطر که گویا مرحلهٔ دعوت مجرد سپری گردیده است و امکانات آغاز مرحلهٔ بعدی فراهم شده است ، بلکه بطور رندانه می‌خواهند طرح مسائل جالب توجه ، از یکطرف حیثیت و اعتبار کاذبانه کسب کنند و از سوی دیگری کمبود شخصیت شانرا جبران نموده و قصور در ایفای مسئولیتهای مرحلهٔ موجود را توجیه نمایند .

قرآن عناصر منافق را گاهی به عنوان مدعیان ایمان ، گاهی بنام کسانیکه کفر ورزیدند و گاهی صریحاً به عنوان منافق یاد کرده است . دربنجا مراد از « الذین امنوا » همان مدعیان

لنډکیسه :

عبدالله رحمانی

ارمان یې پوره شو

موږ لا هلکان وو ، جومات ته به د سبق له پاره تلو « رحیم » کاکا زموږ یو پوخ عمری کلیوال و ، د جومات له استاذ سره به یې د هلکانو په سبق کې هم لاس کاوه ، سبق به چې خلاص شو ، د کلي سپین ږیري به ترې راتاو شول ، موږ به هم ورته کښېناستو ، هغه به خوږې - خوږې کیسې په مینه - مینه راته اوروې ، موږ به ورته په مینه او تاوسه غوږ نیولی و . هغه پیتاوې کیسې نه کولې ، هره کیسه به یې د تاریخ له زړه نه راایسته ، زیاتره به یې د صحابه وو کیسې او ژوند پېښې بیانولې ، هغه کیسې، چې صحابه پکې د دین له دښمنانو او کفارو سره په جهاد بوخت او د شها دت لېوالې وو . کله - کله به یې راته د خپلو نیکونو هغه مړانې ټکي پر ټکي یادولې ، چې له پېرنګیانو سره به یې د ننګ پر وګر سرښندنو او قربانیو

ته را د ښکل او د دین او خاورې به یې په ټره د فاع کوله.

رحیم کاکا یوائې کیسه ډوډۍ (قصه‌گو) نه و، بلکې په خپله هم یو ښکیالی جاهد و، هغه وخت چې موږ ورته د خپل ښوونځي د ښکل نوم کمونیست ښوونکي له لاسه شکایت وکړ، او ورته مو وویل، چې ښکل موږ ته کمونیستي افکار رازده کول او له دینه مو اړول غواړي؛ رحیم کاکا سمبا له واړه له ځان سره تاڼچه واخیسته او ځان یې تر زده کوونکو د مخه ښوونځي ته ورساوه، د ښوونځي اداره ئې ټه ننوونه، له قهره سوروشین کیده، د تندي ګوڼې یې سره ښنتې وې، د ښوونځي سرښوونکی ورپاڅید، روغبړ یې ورسره وکړ، تر سترې مشي وروسته یې تر ې پوښتنه وکړه؛ رحیم کاکا! خیر خو دی، څنګه دې لار غلته کړه؟

ویل: هو خیر دی، دا ښکل مې په کار دی،

سرښوونکی دده له اکربکر (وضعې) نه پوه شو، چې څه خبره خو ده چې رحیم کاکا داسې په تور برښې کې دی، په یوه اندښمن انداز یې تر ې بیا پوښتنه وکړه:

رحیم کاکا! ښکل څه کوې؟

رحیم کاکا ویل: ښکل کمونیست دی، زموږ چې د خدای او رسول له لارې بېلاړې کول غواړي، ورسره فیصلې ته راغلی یم چې خبره سره سپینه کړو، رحیم کاکا ته ښکل څاغ نه پېژانده.

ښکل هم په اداره کې ناست و، دده په خبرو اواحساسا

پوه شو ، رحیم کاکا د احساساتو توپان په مخه کړی و ، منګل موقع ته کاته ، وروبې پښې سپکې کړې .

رحیم کاکا چې لږ ساعت شو ؛ نو د اداري مخې ته د ولاړو شاګردانو ډله یې مخاطبه کړه ، ویل یې تاسې ګې دومره غیرت نه و ، چې د یوه منګل غم مو کړی وای ، چې بل څوک بیا داسې جرات ونه کړي ؟ زما دې په خدای سوګند وي ، چې ژوندی راته ونه ګرځي . زما سر پر دین او خاوره له ننګه زیات نه دی . د حکومت دې لاس آزاد وي ، پرېږده چې ورته تورشم ماته د خدای په لار کې ورکول ګران نه دي ؛ خو دا راته ګرانه ده ، چې پر عقیده مو دې کمونیستان لوبې کړي او موږ ورته ګورو .

منګل چې له هغې ورځې ځای پر ځای ښود ، بیا چا ونه لید .

رحیم کاکا به همیشه دا خبره کوله ، چې یره دا مې ډېر لوی ارمان دی ، چې سر مې د دین او عقیدې په لار کې نذرانه کړم ، پاک خدای دې پر دین د ننګ او غږ وخت راولي چې ...

د زمانې ژبنده پرله پسې چورلیده ، میاشتې او کلونه یو په بل پسې اوښتل ، د رحیم کاکا د ارمانو کاروان هم د وخت د ځاروان پر پله د منزل پر لور وروکامونه اخیستل ، او آخر هغه ورځ هم راورسیده ، چې د ګران هېواد د آزادۍ پر مرغه د روس د لاسپوڅو ناولې منګولې ښنځې شوې ، د روسي شوم پر بنکروټ ولاړ نظام زبرې ، یې راوړې ؛ خو جوخت یې ورته

د خپلواکۍ غوښتنې، مقاومت او پاڅون له پاره د هڅونې ارمغان هم ملګرې و .

د هېواد پر ننګ او ناموس مینې ننګیالیو جهاد ډینو د روژې ګودا ګیو پر خلاف د هېواد په سمه و غږ کې د تکبیر نرووڼکیو نارو په وسله وال جهاد لاس پورې کړ، او د رحیم کاکا په څېر د دې پرې دین مینې په سینو کې زړونه د جهاد په غوڅنالهست شول .

د هغه سپېڅلیو احساساتو او پر دین او خپلواکۍ مینې جذباتو توپاني رنا اخیستې و ،او د هغه ارمان ناوې پې د هیلو کاله ته په راتوونتو ولیده ، چې ویل به یې :

" پاک خدایۀ خو دې پر دین د ننګ او عزت وخت راولې . "

یوه ورځ د خپل درمنده په څېر کې د غزا په سوچونو کې ډوب و ، چې مولوي صیب ورته راغې ، هغه هم د خوږې خبلو تر غوښله دوه - درې ورځې کیدې ، چې کار یې پرې اینبی و ، غوښتل یې چې د جهاد په ملګرتیا کې د رحیم کاکا رایه معلومه کړي،هغه چې د مولوي صیب مشورې او لارښوونې واورېدې ، نو له خوشالۍ یې زړه باغ - باغ شو ، په اوچت آواز یې ورته وویل :

" مولوي صیب ! ته خو لکه زما په زړه کې چې ناست وې هدغه خو زما ارمان و، چې د دین او ناموس په ژغورنه کې د اولس د آزادۍ په لار کې قربان شم ، بس زه ېخې تیار یم ،یو انګېزې

توپك او يوه اصيله تاغچه لرم . »

رحيم كاكا ټټر ټټول د ځان د ترمنزه كولو له پاره د غازيانو په ليكه كې ورګډ شو ، او مجاهدينو ته به يې په خوښه ژبه د شهادت په لار كې د ټينګار او مرانې توصيه كوله او د خپلو غازيانو وروښو نه نژديدو نكى هوډ به يې لا پسې پياوړى كاوه .

سره له دې، چې دا وخت رحيم كاكا د مننو او منزله نه و عمر يې خوړلى و ، خو خدائ په مينه او شهادت داسې مين و چې د غازيانو په هر برید كې به په لومړۍ سر كې روان و .

د روسانو بې كركې بمبار او حملې زمونږ پر مورچو روانې وې .

د ډيرلس سوه نه پخوا يم كال د روژې مياشتې يو غل زمونږ پر مورچو د روسانو د بې درېغه بمبارۍ د لړۍ يوه داسې كړنه وه ، چې د هېرېدو نه وه ، زمونږ پر مورچو يې له پاسه په بمبار تهتر يخ كړ ، بيا يې پلي روسان راخوشې كړل ، غازيان د د ښمن برید ته په تاښا كې وو ، رحيم كاكا د زمري په څېر په خپله مورچه كې په مقابله لګيا و ، له پاسه اوږدن بمونه راوريدل او له پراخه سړك نه د توپو ګولې .

رحيم كاكا په داسې سخت ساعت كې هم حواس بايللي نه چې پياوړي كړي وو ، د دښمن پر لور يې ګولې هم ويشتې او د غازيانو د ډاډ او تسلي وظيفه يې هم په غاړه وه ، پر ملګرو به يې په لوړ آواز غږ كړ :

ډاډه اوسئ، چې بانډه ښکته نه کړئ ، بری او شهادت مو
دواړه لاس څاري ، که ځانونه مو کمزوري وګڼل د عمرونو پېغور
به در په غاړه شي . بیا يې په جلا آواز دا ټپه وکړه :

شهادت خومره سرلوړې ده
شهید د خدائ رضا ګټي جنتله ځینه

لږه شیبه به غلی شو ، خو بیا به يې پر غازیانو ورغبر
کړ : ویې ویل ، ټټرونه پرې یخ کړئ ، موږ او زمون عقیدې
ته يې سپک کتلي ، سپک يې کړئ .

تر دوو شپو پرله پسې جګړو وروسته چې د دښمن قوا
پرېشا و تمبول شوه ، غازیان د خپلو کورنیو احوال ته کوون ته راغلل
د دوو شپو ستومانه او شوکیږ بڼې خُپلې وو ، رحیم کاکا هم کلي
ته راغی ، د مه يې لا نه وه ختلې، چې وطن پلورو پوځونو د
شپې- د شپې کلی کلا بند کړ ، غازیان خبر شول ، ځانونه يې تکره
کړل ، اور بل شو ، کوڅه- کوڅه سنګرونه او بامونه موړچې وې
خو د رحیم کاکا په دې تسل نه کیده ، ویل : موږ نور نه غواړو
شهادت مو کاله ته راغلی او زه به يې هرکلی نه کوم ، په ایکې یوائې
ځان په منډه راوویست ، چا پرې غبر وکړ : درېږ ! خو رحیم کاکا
په تاموس يې « درېږ » نه و لیکلی ، د درېږ خُواب يې د توپک
په ګولی ورکړ ، د ده له وژنې سره د ټولو د ماشیګنو شپیلی ځ پرده راتاوه
شوې او د دښمن دوزو دندوکار اخیستونکی رحیم کاکا هغه یوخښنی ارمان ترسره کړی پرېښود
پاک خدائ خودې پردین د ننګ او غزا وخت راولې چې ....

نجیبه - وجدي

له بنووښځې نه ترزنداني...

په هغه ورځ ټول هرڅه ډول بنکاریدل . د نومیدۍ اوخپګان سیلي، هرې خواته چلیده ، د هرچا په څېره کې، د ژوروغوټو اثر معلومیده . په دې ورځ د کابل سیند هم، خپل عادي حالت، د روښ کار او پښتو د بدلون سره سم، بدل کړی و، د توپان سره یې سیالي کوله ، چې خپرو څپو یې، د دوی په کړمو ورځو شپو کې، د هرچا نظر ځان ته راجلبولو، خو د روښ کار خپرې - پرې پښې د سیند له خپرو څپو څخه څوچنده ویروونکې وې .

د کابل فضا د پرهه خپره - پرهه وه او زیاته غمجنه معلومیده زمونږ بنووښځې (آریانا لیسه) د هدغه، خپرې څپانند سیند په غاړه واقع و .

زه خپل بنووښځې ته رهی وم ، خو زما پښې نن په خ

نه تلې ، د یو لوی خطر ښځې - ښاني د افسانوي بنامار د اسویلي په څېر محسوسیدلې ، په دې هت د بنووښځې انکړ ته ننوتم د حاضرې وخت و ، خو بنووښځې تر څو دېر تش معلومیده. دې لرې ښوني راغلې وې . په دې ښونو کې د نغدو ورځو په څېر کومه خوښي او خوشالي نه بنکاریده ، ټولې غلې او پرېشانه وې . ظاهراً د اعتصاب ښځې - ښاني نه معلومیدې ، مګر د هر یوې بڼې ، د یو عجیب بحران ترجماني کوله .

د بنووښځې په انکړ کې ، د ځښو وښو په ډډو لوی شعارونه لیکل شوي وو ، چې د ځښو په پاکولو وخت ضایع شوی و ، خو د لویستلو وړ وو . د بنووښځې د ټولګیو په مانو هنداروکې او دروازو ې نظر ولګید - هر چېرته لیکل شوي وو :

- الله اکبر

- اسلام زنده باد

- آزادی زنده باد

په هغه ورځ ، د «الله اکبر» نارې ، د لوړو ټولګیو له خوا پورته شوې ، ورسره ښونې د لوړو ټولګیو څخه بنکته راروانې شوې . او د بنکته ټولګیو ښونځې ښونکې یې دا غوښتنه کوله ، چې دوی هم د باندې راووځي ، خو د بنووښکو د مخالفت په وجه د بنکته ټولګیو ښونې د باندې نه شوې راتلای . بالآخره د باندې راوتلو ښونې ، چې شعارونه یې ورکول او د «الله اکبر» نارې یې کولې ، د بنکته ټولګیو هنداریې ماتې کړې . بنووښځې له ټولګیو څخه

وويتلې او بندي شويو نجونو ته لاره خلاصه شوه ؛ د يوه اسلامي پاڅون لاره ، او د يوه غلام او بې نګله ژوند څخه د خلاصون لاره ....

د بنوونځي په انګړ کې يو بهير روان و ، چې څوک يې مخې ته نه شوای دريدلای ؛ يو اتحاد و ، او يو غږ پورته کيدو ، چې په آسمان کې يې انکازې کولې او د هر ژوندي انسان د زړه آواز (الله اکبر) و .

بيا دې مېرنيو نجونو، په هغو کسانو، چې د روس ياو پرچم، د تبليغ تر اثر لاندې راغلي وو او په دې پاڅون کې د برخې اخيستلو څخه وېريدل، ژغ وکړ :

پاڅئ ! که تاسې ژوندي کسان ئ ، نو د مړو پېښې مه کوئ !...

پاڅئ ! که په تاسې کې لږه ساه هم چليږي ، په ژوندۍ د مرګ چوپتيا په ځاوښو او نورو مه زغمئ !...

بيا به د « الله اکبر » نارې پورته شوې ، ورپسې به « موږ اسلام غواړو ، موږ آزادي غواړو ، روس دې مړه باد وي ، موږ په خپل وطن کې روس نه پرېږدو . » شعارونه ورکړل شول .

په څو ګړيو کې ، د بنوونځي ټول ټولګي تش وو . بنوونکې په ځه راتلې ، هغه بنوونکې ، چې په ربښتيني توګه يې ، د اسلام او آزادۍ سبق راکړی و او زموږ د ايمان په پياوړې کيدلو کې

د دوی نقش ډېر مهم و ـ د بغاوت په دې بهیر کې ډېرې مطمئنې بنکاریدې ، د هرې یوې په خبره کې د میرانې اوغیرت رڼا ځلیدله . ځکه، چې دوی نن، د خپل زحمت نتیجه لیدلې وه دوی نن په خپلو سترګو کتل، چې د افغانستان هر فرد ، که پېغله وي او که ځوان ـ د بې ننګۍ او غلامۍ ژوند نه شي تېرولی او په خپل سېځلي هېواد کې، د روس ناولي قدمونه، نه شي ن غملای .

په هغه ورځ، یوه نوې سباه، په موږ کې چلیدله، یوه آزاده فضا محسوسیدله ، د زړه خبرې او هیلې د شعاروښو په څېر له خولې راوتلې او انګازې یې تر آسمانه ختلې، ټولو بغاوت بالکل شریك احساس درلود ، د یو موټي د ګوتو په څېر وې چې چا سره بهلولی نه شوی . د دوی مقدسو احساساتو څومره بنکلې فضا رامپیدا کړې وه ، چې په هغې کې دار او وېره نه وه وطن پاك او ستره معلومیدو. د روس ځغه او د خاینو اوغدارو پوچیانو ځغه ، رومان او دهغوی پرچمي او خلقي غلامان مات او شړمیدلي بنکاریدل . خو دا فضا تر ډېره پاتې نه شوه د ما شیندارو او ټینکوښو غږونه ورو ـ ورو رانژدې کیدل تر څو زموږ لېسې ېې هم محاصره کړه او د وحشي لېوانو په څېر یې حملې پیل کړې، خو بیا هم د « الله اکبر» نارو فضا ډکه کړې وه . او بیا هم دا ویل کیدل، چې :

- اسلام زنده باد !

دروغین ایمان آمند، که قبل از فرا رسیدن مرحلهٔ قتال و مبارزات مسلحانه استدلال می‌کنند، که باید بخاطر رهائی از شر دشمن و ناملایمات مرحلهٔ قبل از قتال و به منظور رسیدن به پیروزی عاجل و خاتمه بخشیدن به این همه انتظار خسته کن و بی‌مورد باید جنگ را علیه دشمن آغاز کرد، چرا قیادت مسلمین فیصلهٔ مناسب صادر نمیکنند؟ به چه دلیل باید برای رسیدن به پیروزی نهائی این همه مراحل پرخم و پیچ را طی کرد و از توسل به یک اقدام قاطع و نهائی اجتناب ورزید و ضربهٔ فیصله کن بر دشمن وارد نکنیم و کار را یکطرفه نسازیم؟ اما آنگاه که مرحلهٔ مبارزات مسلحانه فرا می‌رسد یا دشمن علیه نهضت به جنگ و تهاجم دست می‌یازد و اجتماع اسلام با جنگ تحمیلی روبرو می‌گردد، حقیقت ادعاهای کاذبانهٔ این گروه اینده و مکار هویدا گردیده، فرومایگی و جبن شان برملا می‌شود و بزدل و مرتجع از آب در می‌آیند، نه تنها خود از سهمگیری در اقدامات عملی عقب میروند، بلکه دیگران را نیز از شرکت در آن باز میدارند، تا در برابر اعتراضات تنها نباشند. اقدامات عملی را به عنوان عدم توازن قوا، برتری نظامی دشمن، فرصت نامساعد، عدم پرسونل ورزیده و... محکوم می‌کنند، بالخصوص اگر نهضت طی اقدامات عملی با شکست روبرو گردد، با تمسک و استناد به خسارات و ضایعات، در جهت محکوم کردن اقدامات مذکور و سرکوبی

- موږ روس نه غواړو !

- موږ آزادي غواړو !...

بالآخره هغه شوړې شیبې پیل شوې ، چې وسله والو کسانو، د سره ملیتاریزم له کارخانو څخه راوتلیو فاشستي نظامیانو پر هغو، چې د میني ، زړه سوي او همدردۍ عناصرو، د لطیفو عواطفو خاوندانې کړجوړې وې - ظالمانه او وحشیانه حملې پیل کړې .

په دې حملو کې، څو قهرمانې نجونې شهیدانې او څو تنه یې هم ټپیانې نمونې . د روسي وسلو په زور د بنوونځي سیچلی او آزاد محیط، د یوې عسکري قشلې بڼه غوره کړه . د بنوونځي کوچنۍ او صنفونه د زندان سلولونه وګرځیدل . روسانو او د دوی غلامانو، علاً په دې یوه نظریه ، چې د یوه بنوونځي په پرانستلو سره ،د یوه زندان ور پورې کیږي - د بطلانو کړنه وښسته ، هره ورځ به ټوپونه راټلل او د بنوونځي له سلولونو څخه به یې نجونې نورو زندانونو ته بیولې .

تر اوسه زموږ د ټولګي څخه څوک نه وې نیول شوې او نه څوک شهیدانې شوې وې ؛ د شهادت ارمان، خو د ټولو په زړه کې ځای نیولی و - ټولو د شهادت هیله لرله .

د اعتصاب نه ووړسته ظاهراً د لمسې په محیط کې چوپتیا حاکمه ګرځول شوې وه ، بنوونکو اصلي موضوعات پرې ایښي وو یو لږ ترڅو خبرو، چې هیڅ حقیقت یې نه درلود ، د اصلي درسونو

ځای نیولی و . مزدورو بنوونکو د اعتصاب د حقیقي عواملو د شرح کولو په ځای، بس همدا یوه خبره کوله ، چې پیسې دې اعتصاب کې، د امریکایي امپریالیزم او تورې ار ټجاع لاسونه دخالت لري ؛ کوونکي دوی غوښتل، چې د غوښونو له لوري شاګردانو ته د مصنوعي خوب او غفلت « انستیزي » ورکړي .

د هر غسې غمجنې حالاتو په جریان کې ، یوه ورځ د بنوونځې د لویې درولې څخه یو تور جیپ د بنوونځې انګړ ته راداخل شو او څو شیبې وروسته، څوځنې غړي او مسلح پولیسان د بنوونځې اداري ته ورغلل - هر یوې شاګردې فکر کاوه، چې نوم به یې په لیست کې وي او داجیپ به په دوی پسې راغلی وي .

په دې وخت کې، زمون د تولګي ورځم پرانستل شو؛ د بخوبي رنګونه هم، د درولې د خلاصیدو سره سم والوتل؛ د اداري څخه راالېرل شوي کس ، کاغذ ته وګتل او بیا یې وویل : « ها » دې راځي !

څومره مفته شیبه وه ؛ « ها » زمون غېرتي او باهته ملګرې زمون پیاوړې او مټېرې ملګرې او دا مسلح او ظالم عسکر ! دا تور جیپ - تور زندان او « ها » ! دا تورې تیارې - تور ظلمونه او ستمونه او « ها » ....

خو، « ها » نکه چې د دوی له ظلمه خبره نه وي، په دې جرئت او غیرت واړه شوه ، چې د غیرت فوري اغېزې یې دا نوکر صفته انسانان سرګوزې کړل .

«ها» اداري ته ولاړه او خوشیبې وروسته د جیپ د حرکت غږ واوریدل شو. موږ هم ځای په ځای ودریدو او د کړکیو تر هندارو مو جیپ ته کتل. دې توږمنو په جنایتونو لړل شوې کسانو «ها» زندان ته یووړه؛ هغه زندان ته، چې په هغه کې یوازې د مجرمانو او قاتلانو د پاره جوړ شوی دی. خو دلته واقعي مجرمانو، شریف انسانان د آزادۍ د احساس په درلودلو باندې زندان ته استول.

په ټول صنف کې وحشتناکه چوپتیا خپره شوه. څه شیبې وروسته د وخت د پوره کیدو، زنانو وویل شو او غږونې له ټولګیو څخه ووتلې. موږ د اداري په شاوخوا کې ودریدو - بې اختیاره مو له خولې نارې پورته شوې، چې: «موږ «ها» غواړو ... «ها» چیرې ده؟ هغه څه کړه؟ «ها» بې، ولې بوتله؟ ....»

په هغې وخت کې د «ها» موږ هم راورسیده. په خپلو مظلومو او غمجنو سترګو بې ولیدل، چې د «ها» ځای تش دی نو په ژړا شوه او د نورو د ژړا کانو توپان بې مدګرتیا کوله؛ موږ بې په ژړا کې وویل:

- ولې «ها» مو یوازې پریښوده؟ «ها» مو څه کړه؟

او موږ هم د اداري، د هر نفر څخه دا پوښتنه کوله چې: «ها» موږ چیرې یووړه؟ خو په اداره کې زموږ د ژړا او پوښتنو ځواب نه ورکړې او خلقي بنوونکي او مدیرۍ د تسلي او غرور ټکې د کې خندا، غږ نه پرته بل څه نه وو....

ذبیح الله
له کویټ ښه

یوه خاطره

زموږ د روان اسلامي انقلاب په دې خوکلنه موده کې چې د سرو لېوانو څوړه پېښې شوې، د انسانانو له قتل عام نه نیولې د چرګو- چرګوړو تر له منځه وړلو پورې، هره پېښه په ټیل ځای د سرو لېوانو د وحشت او د افغان مسلمان قوم د مېړانې انځور کړه او ورسره یو لوی ثبوت هم دی. په دې لړ کې ما هم وغوښتل، چې د افغانستان د ځوان کهول او په ۱۳۵۹ کال کې د کابل- ښار د پوهنتون او ښوونځیو د پرتېن پاڅون د یوې صحنې یاد، چې نه یې په خپله هم شاهد وم، راتازه کړم، دا یاد به یې اهمیته ځکه وي، چې نه یې راوړي او لیکونکی یم، مګر تاسو دا په نظر کې ونیسئ، چې دا د پاکو او معصومو وینو د بهیدلې داستان یوه څنډه ده، دا د هغه پاڅون یوه صحنه ده، په کوم کې چې قلمونو، کلاشینکوفونو او کتابونو، ټانکونو نه ماتې ورکړې

او افغاني مسلمانو پېغلو یو ځل بیا د ننګیالي ملالۍ یاد راتازه کړ او په خپلو وینو یې د افغانستان د آزادۍ ویاړلي تاریخ د تل لپاره زرین کړ، نو راته غوږ شئ !

له کابل ښار نه سره بتې جوړه وه ، سړکونه یې د ځوانانو او پېغلو په وینو سره وو . هر ورځ به د پوهنتون او نورو ښوونځیو محصلینو او شاګردانو په مظاهرو او سړکونو ته په راوتلو د «ژوند د شړلو، د ببرك شاه د نسکورولو او د «اسلام زنده باد» او «آزادی زنده باد» نارې وهلې ، ورسره به روسي کلاشینکوفونو د بېرې له اوازونو د کې سینې غلبیل - غلبیل او د تل له پاره سړې کړې توروزندانونو خولې پرانستې وې او د سور ښامار په شان به یې د افغانانو د زړه ټوټې تر ستوني ټېرولې ، روسانو او خلامانو یې د ظلم او بې رحمۍ داسې نادودې پیل کړې وې چې: « مسلمان نشنود و کافر نبیند » او بیا د دې پاڅون په مقابل کې خو یې عکس العمل د پېر سخت ځکه و، چې د هغوی د قدرت مالکه یې په لږو ورځو کې لرزولې وې .

د ورځو نه یوه ورځ د سهار ناهه - لس به وې، زه له عادت سره سم د خپلې کرایي کوټې کړکۍ ته جوخت ناست وم او لوندې مې پر عمومي سړك د تك - راتك ننداره کوله، کوټه مو نادرې لېسې ته نژدې وه او له وړونو سره مې یکې د مسافرو ژوند ټېرلوه ، زه د نادرې لېسې په لسم صنف کې وم ، درس مو

له غږې وروسته و، نو د سهار له خوا به ېکاره يواځې په کوټه کې ناست وم ، بس د نورو چاپو يوغټ چاينک به مې ملکرتيا کوله او له يواځېتوب به يې ژغورلم . زه لا هدامې د خلکو او د ژوندانه د يون په نندارې وم چې ناڅاپه شور ، چيغې او نارې پورته شوې ، ما وريسې له کړکۍ سره راوايست چې څه پېښ شول؛ څه ګورم چې د نادرې لېسې د شاګردانو يو بهير د سړک په مخ ګې راروان دی او د «اسلام زنده باد ، آزادی زنده باد» او «الله اکبر» اروا پالونکې نارې وهي ، ټرافيک بند شوی و اومونږ د سړک يوې خوا ته ولاړې وې . په ځان پوه نه شوم او چې په خود کيدم نو بهير زه هم له ځان سره په ځنه کړې وم ، يو اشنا مې پکې ولېده ، پوښتنه مې تري وکړه چې چل څه دی ؟ وېلې د لېسې ټول شاګردان راوتي دي او پروګرام دامې دی چې د «کاربته آريانا» د متوسطې شاګردان به هم له ځان سره يوځای کړي او بيا به د ښار په لوري حرکت کوو .

په دې پرتمينه مظاهره کې د هرډول فکرخاوندانو ځانونه را ځای کړي وو ، خو چا د «الله اکبر» له کمر ماتروتکي غږ نه پرته بل غږ نه شو کولای او اسلام يوځل بيا داجوته کړې وه چې د ظلم ، استعمار او تجاوز په مقابل کې د دريدو توان هدا اسلام لري او پرکښې پر ځان راټولولای شي .

بهير روان و، د سړک د دواړو خواوو له دوکانونو نه دوکانداران راووتل او د شاګردانو پې ټود هرکلی وکړ

وې هڅول او شاښې يې ورته ووايه ، د بهارستان سينما مخې ته يې بهير لږ تم شو ، دلته ځوانان په اوږو پورته کړل شول او سخت تاوده او انقلابي شعارونه يې ورکړل ، له ټپروکرام سره مظاهره کوونکيو حرکت ته ادامه ورکړه چې د کارته اريانا د متوسطې شاګردان له ځان سره کړي . له بهارستان سينما نه به لا ډېر نه وو لږ وخت چې ناڅاپه يو روډی په جيپ کې سپور په مخه راغی ، سا تري الوتې وه ، موټر يې له مجبوريته يوې ټغه ودرولې و ، شاګردانو يې موټر په سوکانو او لغتو وواهه . خو څرګنده چې دا اول ځل و ، د داسې پېښې په هکله ځکې له ځکې چا فکر هم نه و کړی او ځواک له مرګې-ژوبلې سره هم بلد نه وو ، نو روډی يې مرګه پاتې شو ، کومې نو بايد په هاغه جيپ کې سوځول شوی واى ، هغه هم چالاکه و چې لږه ورته لار ېرته شوه ، د ستړګو په رپ کې يې موټر له مخنه وايست او وتښتيد ، د «شهر آرا» ځلور لاري ته چې ورسيدو ، شاګردان لږ تم شول ، دلته د سړک په پڅولو بوخت کارګران راسره يوځای شول او په چکچو يې زموږ هر کلی وکړ ، د شاګردانو دا تلوار و چې د متوسطې متعلمين هم زړ تر زړه ورسره يوځای شي ، هاغه و چې حرکت ته يې ادامه ورکړه .

له څخه مارکيټ نه مخکې د سړک بنې لاس ته يوه لويه مستري خانه ده چې يو ورځې د پوال تري راچاپېر شوی دی ، موږ چې دلته راورسيدو نو ومو ليدل چې ناڅاپه د ښار له لوري عسکري

راښکاره شوې ، يو- دوه جيپان هم ورسره وو ، داسې ښکاريده چې په جيپانو کې روسان سپاره وو . فکس کوم چې د «کارته پروان» د پوليسو له ماموريت نه هم پوليس او د «حزبي ناحيې» سړي خوله راغلل او په دې ډول يې موږ له دواړو لوريو محاصره کړو او له موټرو نه په کوزيدو سره سم يې په ډزو پيل وکړ د عسکرو او پوليسو په ډزو کې خو خا خه خواخوږي او زړه کې مګر د «حزبي ناحيې» غړو د ډېرې سپېتانه کولو ، شاګردانو د هغوی د ډزو ځواب په ډبرو او خښتو ورکاوه او ورسره هر سړي د کلاشينکوفونو د ضربې نه د ډېر پاتې کيدلو مخه هم کوله ، په شاوخوا کې له مستريخانې پرته بل داسې ځای نه و چې چا پناه ورورې وای ، په داسې حال کې چې روسانو او غلامانو يې هداسې هوايي ډزې کولې او د شاګردانو په نيولو بوخت وو زياته مظاهره کوونکي د مستريخانې په لوبه کوټه ورننوتل چې له مرګ نه په امان کې شي . خو نو يې د مستريخانې د شا د لوري له ورړوکي دېوال نه اخوا ورودنګل چې ځانونه د سړو لېوانو او د غلامانو له نظره لرې کړي ، خو له بده مرغه د دېوال شاته ورته د خوسا اوبو يو ښکوانی ډنډ لکه د رويې ځناورو کين نيولی و ، چې چا به په تادی کې له دېوال نه اخوا ورتوپ کړ ، نو د ځګکنونو پورې به په خټو کې ښخ شو او چې ترشو به هغه له دې مصيبته ځان خلاصوه نو بيا به يې وطنفروشان له کلاشينکوفونو سره په سر ولاړ وو .

د مستري خانې په لوبه کوټه کې له دې هم حال بدتر و، تر خولې پورې له شاګردانو ډکه وه، ما هم بله لار ونه موندله او هم هغې لورې ته مې مخه کړه، ګوندې وې چې د سر پټولو ځای پکې پیدا کړم، دروازې ته په رسیدو مې ولیدل چې د پښې د اینبود و ځای پکې نه شته، په دروازه کې هم دوه کسه ولاړ وو، له دې ځایه هم راستون شوم، اخ و ډب روان و او ولې پلورونکو بې شپږه شاګردان نیولي او لاسونه یې سپې تړلي وو، بې غیرته یې له تشو لاسونې هم وېرېدل. البته د مستري خانې په کوټه کې چې خومره شاګردان وو، هغه یې په ډېره اسانۍ ونیول ځکه چې هلته بیا د تېښتې لار هم نه وه، یوه وړوکې دروازه پکې وه، چې هغې ته د پردو برېښې توپک په لاس ولاړ وو.

ما چې ځلوې خوا وکتل نو ځان مې د پولیسو، عسکرو او د حزبي ناحیې د غړو په منځ کې ولید، خو حیران دې ته وم چې تر اوسه رابانديې ولې چا لاسونه نه وې پورته کړي او چې ځان ته مې پام شو، نو پوه شوم چې زما کلیوالي جامې زما د خلاصون وسیله شوې دي. هغوی به پرما د کوم اطرافي ګومان کړی و چې هلته په تماد في توګه پښې شوی، نو ځکه یې رابانديې غرض نه و کړی. زه یو ساعت دیو سګرټ پلورونکي په خوا کې ودرېدلم، د ملګرې مې درک نه وه، نه پوهیدم چې څه چل پرې شوی، دزې لوې سرې شوې وې، ما

هم د خپلې کوټې لار ونيوله، څو قدمه مخکې نه وم تللی چې د حزبي ناحيې يو وطن پلورونکی مې وليده چې د يوه متعلم دنيولو هڅه يې کوله او په دې کش وګير کې يې د هغه په تنکی سينه د کونداغ ګوزار وکړ . هغه تنکی ځوان و ، دا سخت ګوزار يې نه شو زغملای او له يوې دردناکې چيغې سره يې غږ کړ چې « الله مادر جان ! » د هغه زړه دردوونکې چيغې دېرخواشينی کړم او سره له دې چې زه په يو لوی چاقو مسلح وم مګر ما د هغه مرسته و نه شوه کړای ، نه پوهېږم چې ولی ! مګر په هغه حال کې يواځې د چاقو بشکاره کولو هم زموږ د دواړو ژوند له خطر سره مخامخ کولی شو . وطن پلورونکي وارخطا وو، وېرېدلي وو هر دول لېونتوب ته يې لاس اچولی شو . بله دا چې زه هم د لومړي ځل له پاره له داسې حالاتو سره مخامخ کيدم ، نه پوهيدلم چې څه وکړم ، تصميم مې نه شو نيولای او هسې هک-پک ولاړ وم .

په هر حال ، کوټې ته راورسيدم او چې د ملګرې پوښتنه مې وکړه نو خبر شوم چې هغه خو يې هم هلته نيولی دی . بيا جمعه-نيمه پس يې شاګردان راپرېښودل ، ملګرې راته کيسه وکړه چې له مستري خانې سره له نيولو نه وروسته يې په لويو عسکري موټرو کې اچولی و، د کابل * ټولو زندانونو ته يې بيولی و خو چا ورته ځای نه و ورکړی ، ځکه چې زندانونه له يوې مخې په مسلمانانو ډک وو، خدای خبر چې څرنګه يې

(پاتې په ٧٨)

روحیهٔ رزمی مجاهدین مؤمن به تبلیغات ناروا می‌پردازند و مواضع منافقانهٔ کناره‌گیری از اقدامات عملی، خزیدن بگوشهٔ عافیت و درگیر نشدن با خطرات احتمالی را توجیه می‌نمایند.

قرآن درین زمینه می فرماید:

ألم تر الی الذین قیل لهم کفوا ایدیکم و اقیموا الصلوة و اتوا الزکوة فلما کتب علیهم القتال اذا فریق منهم یخشون الناس کخشیة الله او اشد خشیة و قالوا ربنا لم کتبت علینا القتال لو لا اخرتنا الی اجل قریب قل متاع الدنیا قلیل والاخرة خیر لمن اتقی ولا تظلمون فتیلا. أین ما تکونوا یدرککم الموت و لو کنتم فی بروج مشیدة ط

(سورهٔ النساء: ۷۷-۷۸)

ترجمه:

« آیا ندیدی بسوی کسانیکه، به آنان گفته شد: باز دارید دست تان را (از اقدام به جنگ) و برپا دارید نماز را و بدهید زکات را، بعد چون جنگ بر آنها فرض کرده شد ناگاه گروهی از آنان (چنان بودند که) می ترسیدند از مردم چون ترس از خدا و یا شدیدتر از آن. و گفتند: ای پروردگار! چرا بر ما قتال را فرض کردی؟ چرا ما را تا میعاد نزدیکی مؤخر نگذاشتی؟ بگو متاع دنیا قلیل است و آخرت برای کسیکه پرهیزگاری کند بهتر است، و بر شما ستم نخواهد شد مقدار رشتهٔ دانهٔ خرما، در هرجائیکه باشید شما را

خاطره :

سید محی الدین رښتونی

د پرش جنازې

د ۱۳۵۹ ش-هـ کال د جوزا د میاشتې، لومړۍ شپې- وړځې وې . د پوهنتون د لومړي سمستر ازموینې سبا شروع کیدې، کتاب مې مخې ته پروت و ، د سبانۍ ازموینې له پاره مې تیاري نیوه د ماښام د اتو بجو خبري سروېس کې مې دا خبر واورېده، چې: « د ننګرهار د ولایت د کوټ کوټې د اولسوالۍ د درهٔ نور دسیمې د بلوایانو د کلیو شریفو خلکو، ټن په هغه سیمه کې، د یو سترې مارش په ترڅ کې، له خپل انقلابي دولت (؟!) سره خپل هرډول ملاتړ او پیوستون څرګند کړ ۰۰۰۰ »

کله چې مې دا خبر واورېد، نو پوی شوم، چې په هغه سیمه کې خلکه مارش شوی دی او خلکو له انقلابي دولت (؟!) څخه ځه‌ډول ملاتړ او پیوستون څرګند کړی دی، ځکه چې دا خبره خو ځو-ځو ځله موږ ټولو ته ثابته شوې وه ، کله چې به دوی په کومه سیمه کې د

مارش کیدو او د دولت څخه د ملاتړ او پیوستون خبر خپور کړ نو ، په همامغه ورځ به په هغه ځای کې د تانکو، الوتکو او پلیو (پیاده) پوځونو مارش شوی و او دهغې سیمې ځینې خلک به په خپلو وینو کې لمبیدلي وو ، څه به په مهاجرت مجبور شوي وو، ښې-شهره کورونه به په کنډوالو بدل شوي وو او د خلکو شتمنۍ به لوټ شوي وې .

هلته له یوې خوا سبا زموږ د سمستر ازموینه پیل کیدله او ما چې په ټولګي کې د نمرې رقابت هم درلود، باید چې د ازموینې دپاره مې څه درس لوستی وای او له بلې خوا مې دا د غم خبر واوریدو .

آخر مې دا فیصله وکړه ، چې هرڅنګه کیدا ے شي یو ځل باید خپلې سیمې ته ولاړ شم او دخلکو له حاله ځان خبر کړم .

ټوله شپه مې، په ویښه تېره کړه او چې د سهار رڼایي خپریدله ، نو زه بیا د موټرو اډې ته رسیدلی وم .

مازیګر نږدې و، چې خپلې اولسوالۍ ته ورسیدم ، چې یو خوا- بل خوا مې د دښمن پوځونه ، ټینکونه او دول-دول نقلیه وسایل او د بازار دوکانونه ترڅې ولیدل ، نو راته پته ولګیده، چې مارش خو لا اوس هم شروع دی، خو ښایي، د خپلې سترګې د رفع کولو دپاره، دلته د مه ګیر شوی دی .

هو خوا-دې خوا مې، په دې هیله، دوبر وکتل، چې که د خپلې

سیمې څوک پېژندونې ومو م ، چې د خلکو له حاله مې خبر کړې، خو هرې خوا مې، نا اشنا څېرې تر سترګو شوې . آخر د خپلې سیمې پر خوا رهي شوم .

زموږ سیمه له اولسوالۍ څخه، درې میله وړاندې، د غرې په لمن کې واقع ده .

زړه مې نا زړه پر هغه لور ور روان شوم، او چې خپل کور ته ورسیدم، نو څاروې مې لیدل، چې یو خوا - بل خوا یې، په پټو کې مناوې رامنډې وهلې، د کورونو د بوالونه نړیدلي او شړې کنډوالې تر سترې جوړې شوې وې، خو هیڅوک نه وو، چې ما تر سترې، د غه غم لرلی حال پوښتلای وای .

هسې خو چاپېریال، په لومړي ځل لیدنې، دا هرڅه، ماته د حال په ژبه وویل، خو زما س پرې خلاص نه شو او دول - دول اند یښنې مې، په فکر کې کړځیدې . یو ځل به مې، فکر ته راغلل چې کیدای شي، کوډې خوا ته، په هجرت مجبوره شوې وې . او کله به بیا دا راپه زړه شو، چې بنایي لوی - وارې ټول وژل شوې وې . خوادا دوه یا خبره مې زړه ته ډېره پرېوته . نو له ځان سره مې، فیصله وکړه ، چې راځه، یو ځل خو هدیره هم وګورې، چې څومره قبرونه پکې تازه جوړ شوې دي . کله چې هلته ورغلم، دوه - درې قبرونه مې تازه جوړ شوي ولیدل او نور هاغه قبرونه وو چې د مخه مې هم لیدلي وو.

د ماښام تیاره ورو - ورو د ځګې پر څېرېدله. سوچ مې وکړ، چې باید پورته کلیو ته لاړ شم ، ګوندې وي، چې کوم څوک

له دې توپانه ژوندۍ پاتې شوی وې . خو کله ،چې کلیو ته ورسیدم هلته هم، د پوښتنې کولو، څوك نه وو پاتې .

وېره شیبه، هلته حیران- دربان، ولاړ وم . نه پوهیدم، چې څه وکړم او څنګه له دې حاله ځان پوی کړم ؟؟

د ماښام تیاره د ځمکې پر مخ، پوره خپره شوې وه . د خبرو آواز مې تر غوږو شو ، چې وروسته وروسته، زما خواته، را نژدې کیده. کنډ مې، چې یو تن کلیوال چې ځاوړه په شا ، مېرمن او دوه تنه ماشومان پې ورپسې وو، زما څنګ ته، راورسیدل . په لومړي نظر، خو مې ونه پېژانده ، چې کوم کلیوال دی ، خو په لیدلو پې د وېره خوشاله شوم چې بنایي په هدغه وخت کې مې، د څه شیبې دپاره، ټول غم لرلې حالت په ناڅاپي توګه له ذهن نه وتلی وي .

ما پرې غږ وکړ، چې ودریږه ، څوك یې !؟ هغوی چې د خو ورځو پرله پسې بمبارۍ او د دښمن پوځ ناکړدو، وېروونکو حالاتو پرځای ودریدل - خو د خبرو کولو توان ورسره نه و او له هیبته پې غږ په ستونې کې بند- بند شو . زه یې، خوانه ورغلم او چې وې پېژانده ، چې څوك دی - نو غږېره مې تږې چاپېره کړه . په هغه خوبې راماتې وې او په وېره خوارۍ پې ماته، ستړې مشې، وویل .

ما چې تږې د سیمې د خلکو د حال پوښتنه وکړه ، نو په بنده- بنده ژبه پې دومره پوی کړم چې په تېرو عملیاتو کې اووه تنه کلیوال، شهیدان شوي دي (چې درې تنه پکې، د هدې کلیو

د جوماتونو ملا امامان وو) او چې بیا هې ترې د خپلې کوڼې پوښته وکړه، نو دوهره یې راته ووېل، چې هغه عزه ته ـ نژدې باندو کې یې اړولې دي او د نورو کلیوالو په شان د سهار په خړه، عزه ته خټې ـ څو له بمبارۍ، ځانونه په امن کړي او مابنام بیا کله ها غلته په عزه کې پاتې شي او کله باندې ته، راښکته کیږي.

له ما سره، په زړه کې، د دغه غم لرلې حالت په هکله، دوهرې پوښتنې وې او بنایي، ټولې هې، ترې کړې وای ـ خو، چې د هغه او د هغه د ماشومانو ناقراري ته هې وکتل، نو خدائ پامانې هې ورسره وکړه او د هغو باندو په لور ور ږغې شوم.

په لاره کې هې یوه ـ نیه کاږه بله هم په هدې ډول منځ ته راغله، خو ما پرې غږ ونه کړ.

پوره ما سخوتن بره و، چې هغه ځای ته، ورسیدم. زمونږ د کوڼۍ غړي هم، یوه شیبه مخکې، سترې ـ ستومانه، له عزه څخه راکښته وو. بنایي، زما په لیدلو به، هغوی خو شاله شوي وي، خو مایې په هغه شیبه، په خبرو کې، د خوښۍ هیڅ مخښې ـ بنایي، ونه ـ لیدلې او دا راته پته ولګیده چې د دښمن د پوځونو، څو ورځې پرله پسې بمباریو او وحشیانه حملو، له هغوی څخه د ژوند خوښي او خندا هګړه کړې ده.

د حال ـ احوال پوښتنې په ترڅ کې پوی شوم، چې دوی تراوسه ټول ژوندي دي.

له هغې وروڅې، چې د دښمن قواوې له عملیاتو کولو څخه وژغ

ناکامه خپلې قرارګاه ته ستنې شوې دي . هره ورځ په خلکو کې په تیت او پرک ډول دا آوازه خپرېږي ، چې د دښمن قوه ، سبا بیا مجاهدینو د مرکز (چې په هدې غرو کې و) د ټولو دپاره راځېژي . دا ځلور پنځه ورځې ، خلکو په هدې وېر او هیبت کې ، ټېرې کړې وې ؛ زیاترو خلکو دا شپې - ورځې ، په غارونو کې ټېرې کړې وې .

مجاهدینو ، د خپل مرکز د ساتلو دپاره ، پوره تیاری نیولې و ، او خواوشا یې ، کلکې او پخې موړې ، جوړې کړې وې .

په دې شپه ، خلك په دې تیتو - پرکو آوازو ، څه - ناڅه ، بې - باوره شوي وو او تر نورو شپو - ټن ، زیات شهر کوونه ، کلیو او باندنیو ته ، راکوز شوي وو .

دغه غم لرلې شپه ، چې ټېره شوه او د سهار پوره رڼایې لا نه وه لګیدلې ، چې خلکو بیا ، ځانونه د غره خلوته برابر کړل .

ځینې خلك ، له کورو راوتلې او د غره پر خوا روان وو او ځینو لا د تلو ترتیبات نیول ، چې شاوخوا ، ډزې شروع شوې او معلومه شوه ، چې د دښمن پوځیانو ، شاوخوا سیمه ، د شپې له خوا محاصره کړې ده . د مجاهدینو مرکز هم له دې ځایه ، څه - ناڅه لرې و او هغوی ، چې له خپل مرکز څخه ، د دفاع د پاره ، پوره ترتیبات نیول نو په دغه شپه ، کلي ته د لږې دپاره ، نه وو راغلي او خوك چې په کلیو کې وو ، هغوی په دې ټېرو څو ورځو کې ، دومره ستړي شوي او هیبت ځپلي وو ، چې د شپې ناوخته ، د دښمن پیاده قوې په راتلو هېڅ نه وو خبر شوي .

خلکو، چې له هرې خوا، ډوزې واوريدې، نو ځانونه يې يوځاى-
بل خوا پټ کړل . څوك كارېزونو ته ننوتل او څوك، هغه سورو او غارونو
ته ورغلل، چې د هغه پې، د ځان له پاره جوړ کړې وو .
ربنا ورو- ورو خپرېدله . يوه شيبه پس، څو هيليکاپټره
راغلې او په شاوخوا سيمه يې، بمبارۍ پيل کړه او بيا په ټوله سيمه
د ټانکونو(۹) نقليه وسيلو او پياده پوځونو خوبل جوړ شو .
زرورو مجاهدينو له خپل مرکز څخه، د دفاع د پاره
په دېره مېرانه، د دښمن د قواوو مقابله پيل کړه . له سهاره تر
مابنامه، پرله پسې جګړه روانه وه . د دښمن زيات شمېر پوځيان
مړه او ژوبل شول او څونقليه وسيلې او ټانکونه يې، په راکټونو
او هغه مينونو، چې مجاهدينو د هغه په دفاعي شکل، د خپل مرکز
نه وراړندې، ايښي وو، له منځه لاړل .
د دښمن قواوې، له دومره پوځي ځواك سره-سره، بيا هم، د
مجاهدينو د مرکز په نيولو بريالۍ نه شوې.
مازيګر په تېريدو او مابنام په راتلو و . دښمن پوې
شو، چې نور يې، په پاتې کيدو کې، خير نه شته او د مابنام د تيارې
په خپريدو سره يې، بيا الوتکې هم، فعاليت نه شي کولى، نو په پهشاتګ
مجبوره شو . خو د خپلې شرمېدلې ماتې، د جبران له پاره يې، هغه
دوه ويشت (۲۲) تنه بې وسله سپين ږيري، ځوانان او ماشومان
چې د ورځې يې، په هغه سيمه کې نيولي وو، په دېرې بې رحمۍ سره
په يوځايې توګه، په ګولېو سوري- سوري کړل او لس(۱۰) تنه يې، د خپلو

هغو تښتېدلیو صاحب منصبانو او عسکرو، په بدله کې، چې د جګړې په جریان کې، له مجاهدینو سره، یو ځای شوي وو، له ځانه سره ژوندي بوتلل .

مابنام چې کلیوال یو-یو خپلو کورونو ته راتلل، نو هر یو به، دا فکر کاوه، چې هغه زه به، ګوندې ژوندی پاتې یم او نور به ټول کلیوال، د مجاهدینو په شمول، مړه وي .

دا غم لړلې شپه هم، تېره شوه او بیا د بل له حالې خبر نه- شوه . سهار، چې یو تن هغه کلیوال، چې د وژل شویو دوه ویشت تنو، په ډله کې وو، خو کله، چې د بنمن، په دوی، په یوځایي توګه ګولې چلولې، نو ده، ځان د مړو په کتار کې غوړځولی و- هیڅ کارتوس پرې نه و لګیدلی او په دغه ترتیب، له مرګ څخه ېچ پاتې و، خلکو ته یې، د وژل شویو کسانو خبر راوړ . نو په پاتې خلکو، لا اوس هم، دومره هیبت پروت و، چې د خپلو- خپلوانو د جنازو راوړلو توان یې نه درلود .

په ټولو کلیو کې به، پنځلس - شپاړس تنه موجود وو. آخر، چې غرمه نږدې شوه، نو دوی بیا، زړه- نازړه، هغه ځای ته، ورروان شول، چې (۲۲) وژل شوي کسان پکې پراته وو . دوی، چې دا اوریدلي او لیدلي هم وو، چې روسان، چې د عملیاتو په لړ کې کوم خلک ووژني، نو بیا یې، په خبته کې بم ږدي -کله، چې نور خلک، د هغې راوړلو پسې ورځي او هغه ته لاس کړي، نو بم چوي او حاضر کسان له منځه وړي . نو ځکه یې اوس، د خپلو مړو راوړلو

ته م/نړه نه شو بښه کولی .

دوی په دېرو مشکلاتو ، دغه (۲۲) جنازې ، هدیرې ته ورسولې او په قبرونوکښېندلو لې ، شروع وکړه . دوی لاپښځه شپې قبرونه ، نه وو کښندلی ، له اولسوالۍ څخه خبر راغی ، کوم هغه لس (۱۰) تنه ، چې ماښام ، د دښمن قوا وو ، له کانه سره ، بېولې وو اته (۸) تنه یې ، وژلې او دوه تنه ټرې ، د وژلو ځای نه ، د بېولو په وخت کې ، تښتیدلې دي او د دښمن قواوې ، سهار وختي ، مـ کـ ته تللې دي .

خلك لا په دې فکر کې وو ، چې څوك به یې وژلې او څوك به ، ټرې تښتیدلې وي ؛ د اولسوالۍ څخه ، دوه سرویس موټرونـه راغلل او یوه شیبه پس (۸) جنازې ، نورې هم ، په هدیـره کې کښودې شوې .

د ۶۹ پاڼې

ورته په کومه زېر زمینې کې ځای پیداکړي و او دا یوه جمعه یې هلته ساتلی و . البته د متعلینو روحیه په دې موده کې دېره قوي وه او کومه سستي یې نه وه بنودلې . د بند په دې موده کې ورته ولس پلورونکو له کچالانو پرته بل څه خوړه نه ورکول ، هغه به یې هم ورته په یوه بېړل کې جوش کـړې راوړل . په اخر کې له یوه - یوه سره د کابل ولس پلورونکي ښاروال لیدل - کتل کړي او تعهدونه یې ترې اخیستي وو چې بیا به مظاهرې نه کوي .

فصیح السان (بنوونکی)

چارسده

د افغانستان مبرنی اولس

افغانستان د براعظم اسیا یو وړوکی شان هیواد دی ، خو په دې وړوکي شان ملک کې ، چې کوم تاریخ سان قوم استوګنه لري ، نن هم په کړه نړۍ کې ، د هغوی د بهادرۍ او دلاورۍ داستانونه د هر باخبره قوم په نظر کې یو لوړ شان لري او د جهان د نورو هیوادونو د پاره ، د یو ژوندي اولس ، ګلنۍ مثال وړاندې کوي .

همدې خو په نړۍ کې ، نور تر استعمار لاندې او استعمار-ځپلي هیوادونه هم شته ، چې د هغوی استوګن ، ګاموني ، دخپل وطن د آزادۍ کوښښونه کوي ، لکه د « فلسطین » د آزادۍ پتنګان ، قبرسي مسلمان و نور . خو تر ټولو مخه ، چې د افغانستان د جهاد خبره ده ، نو دا ځانته یو جدا او اوچت حیثیت لري .

مرگ می‌دریابد، هرچند در قصرهای مستحکمی باشید.»

تفسیر:

قبل از فرارسیدن مواقع مناسب جنگ، با دست و پا زدن و زبان درازی‌ها وانمود می‌کند، که منتظر دستور جنگ و هوادار آنند. ولی بعد از آنکه نهضت درین مرحله قرار می‌گیرد، و ضرورت اقدام به جنگ احساس می‌گردد، ترس و جبن این گروه ترسو و جبون هویدا گردیده، چگونگی اعتقادات شان برملا می‌شود، درحالیکه در مراحل قبل از جنگ برای جلب توجه مردم بطور رندانه و ریاکارانه به جرأتمندی و شهامت تبارز نموده خود را انقلابی دوآتشه جا می‌زنند، مترادف به اینکه در مراحل قبل از جنگ مطمح نظر شان ارضای مردم است، در اثنای جنگ خوف و خشیت مردم به نحوی بر آنها مستولی می‌شود که جنگ را به مثابهٔ مرگ محتوم خویش تلقی نموده، سعی می‌ورزند که اقدام به جنگ به تعویق بیفتد و تصور می‌کنند که با این تلاش‌ها از مواجه شدن با خطر مرگ نجات خواهند یافت و تقدیر شان دگرگون خواهد شد.

حالات جنگ چگونگی پیوند انسانرا با اسلام و فاصله‌اش را از ایمان بازگو می‌کند، کسیکه در شرایط حساس و دشوار که بقای اسلام و سلامت مسلمین به فداکاری و ایثار افراد متعدش ضرورت دارد و در غیر آن جنبش با خطر نابودی تهدید می‌شود، بجای پاسداری و دفاع از اسلام، به فکر

شوروي اتحاد (روس) د تېرو شپږو کالو راهیسې، د افغانستان په کورنیو چارو کې، مداخلت شروع کړې او د پرچم، وطنفروش ګوندي هم، د خپل جارحیت مدح سرایۍ ته اړ کړی دی، خو په وطن مین ننګیالی افغان اولس د پرچم د بازارنو د فریب په دام کې راګیر نه شو.

روسان، چې د «ترکي» او «امین» په کامیابولو کې ناکام شول، نو د «ببرک-کارمل» غوندې، یو بې رحمه او ذلیل غلام یې، راوخکې کړ او دهغه د اقتدار د پښتګولو په نوم یې، د افغانستان په خاوره، بریدونه پیل کړل.

د دې یرغل، د شروع نه روستو، د افغانستان خاورې برخه خلك په خوړا تعدا سره، دې ته اړ شول، چې خپل خوږ وطن پریږدي او په کاروانیو هیوادونو کې د هجرت او آوارګۍ تریخ ژوند شروع کړي.

په تېرو شپږو کلونو کې، د افغانستان په اسلام مین اولس، د یرغلګر روس، له لښکرو سره، دامې غزاوې او مقابلې کړي دي، چې د تل دپاره به، د دنیا راتلونکي مبارزین او مجاهدین ځانې الهام اخلي او سبق زده کوي.

نن ګورډې نړۍ ته، دا خبره، د نمر په شان ښکاره ده، چې د افغانستان ننګیال اولس سره، هیڅ ځواب دامې وسله نه شته، چې په هغې دې، د وحشي سپر پاور (روس) مقابله وکړي، خو د مسلمان ډیارډ د اسلحې نه زیات، د حوصلې ضرورت دی

او الحمدلله، د افغانستان د مجاهد قوم سره، دا جذبـــه، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اصحابو په شان، موجـوده ده .

هم د دغې خلکو، د مضبوط ایمان او غیر متزلزله عقیدې د یاد تازه ساتلو د پاره، مولانا «ظفرعلی خان» فرمایي :

کافر ہے تو شمشیر پہ کرتا ہے بھروسہ
مومن ہے تو بے تیغ بھی لڑتا ہے سپاہی

افغان مجاهدین، د اسلامي او قامي پاکي جذبې، په خپلولو سره، دا څوم کال دی، چې نه یوازې، د افغانستان د آزادۍ د ډیوه مـړه کیدلو ته، نه پریښې دي، بلکه د اسلام، د بري ډیوه یې هم، لا روښانه ساتلې ده .

نورِ خدا ہے کفر کی حرکت پہ خندہ زن
پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائیگا

د ۹۶ پاڼې

وړې روغتون ته راغلی . وروسته له دریو ورځو څخه په عادي ډول، د معالجې له پاره راته . کله، چې دی بېرته راغلی ، د روغتون په دهلیز کې د هغو ناروغانو عکسونه څړپند وو، یو لاس پکې بشړل شوی و، چې وږو- وږو جوړ شوی و . خو زه پوهیدم، چې موږ لومړنۍ کسان وو، چې دا ماشینونه راباندې ازمایښت کیدل . زما ملګري تل کرکې ته کتل او لاس یې هم کوم توپیر نه و کړی .



محمد عرفان خټک (د اکوړې)

چار بیته

جوړه د کابل نه قتلګاه او کربلا ده
هر خوا ته واویلا ده
دی جوړ قتل و غارت، په سه غر، په بیابان
د هیڅ نه شته پرسان

مقتل دی مظلومان پکې قتلیږي وار په وار
بې حده ظالمان دي، د ظلمونو نه شته شمار
بس یو ذره د قهره نه وپریږي، د قهار
سه او په غر، د افغاني ستورو ځلا ده
هر خوا ته، واویلا ده

سه او په غر، یو شان باران دی، د بمونو
حد او حساب نه شته د بې ګڼه زحمتونو
څه به درته وایم، د دښمن د لښکرونو
وژلې بې رحمي سره شي، ټول اهل قرآن
د هیڅ نه شته پرسان

وژلې شي هغه، چې وي، منونکي د «قرآن»
بس نه پرېږدي ژوندی، هر یو وینونکی د قرآن
په خپله دي «الله» شي اویس، ساتونکی د «قرآن»
ربنتیا په نړۍ دی، د «محمد» د دین قلا ده
هرخوا ته واویلا ده

ربنتیا چې دی لایق، د دې عزت او احترام
قربان چې دی، په ننګ او ناموس د وارې قام
جذبې پې لا ژوندی شته دی، په زړه کې د اسلام
قتلیږي په جذبه د شهادت، هر یو «افغان»
د هېڅ نه شته پرېسان

قتلیږي د اسلام سرفرازۍ ته ځانه هم
ځاریږي، د افغان وخپلواکۍ ته ځانه هم
ګټې نه شي، د غیرو واکدارۍ ته ځانه هم
ټول کفن په سر دي، د هرچا، تورې تر ملا ده
هرخوا ته، واویلا ده

ټول په خپله خاوره باندې جنګ کوي، په ټره
دي د خپل مرام د پاره، تېر د مال و سره
وېره د «الله» کړي، بل له هیڅا، نه کړي وېره
دوی دي «عرفان-خټکه!» د وطن په ننګ قربان
د هېڅ نه شته پرېسان

*

لنډی

کارمله ! دې پر ظلم دې وکړې
تر کلو بنکلي ووړکي، توري خاورې خوړینه
چې مجاهد د راکټ غږ شي
روسان په ځنګ شي، سره خلقیان راګډه کړینه
که د اسلام، په نوم شهید شوې
دا سرې جامې به دې، په کلیو کورځومه
اختره! څه په کار مې نه یې
په ما پراته د کران وطن، د لې غمونه
که د غزا په دوړو، خې وې !
د سر په شال به، در نه لرې کړم کردونه
تر غویګون توپک دې، جار شم
تړلې تا دی، توغه زه درپسې ځمه

که پرچمي وې، نوم دې ورله شه
که مجاهد وې، رنګه-بنګه درغلمه !

وطنه ! ته دې خپه نه وې
که ووړکي مړه شي، جنګي به جنګ ته ځينه

د بادشاهۍ دوران دې واوړه !
دا بنګلې جونه، په ژړا ژړا، کړې، ته ځينه

خدايه ! ووړکی ووړکی، ستړکې
چې د روسيې ملې، له بيخه و باسينه

چې د «الله اکبر» غږ يې، تر غوږ شي
د شوروياتو تر زړه، توره وينې ځينه

امانتي مې ګور کې کښې دئ !
د سنګر وونه مې، ليدلو ته راځينه

اباد و کلیو کې، غوغا شوه
چې ګران وطن ته، سره کفار راغلي دينه

اشارتونه راته مه کړه !
زه دې په ښغو برېتو، وپره ټپروتمه

راليږونکی : محمد اجان بکهموال ځاځی

د هنګو د دوآبې له کمپ څخه

روس به يې څنګه سوتله خبرې
د کومو څوکو، چې وړه پيڅې بنګلوينه

د روس دې څه نه شي چېرته
وزې ملخ دی ګډ وندې تباه کوينه
سپينې خېمې دي، د راورکو
لکه تنها کې، چې په زړه ختلې وينه
پرېښدئ، چې دوبرې وسلې راوړي
د روس بچي هم په روسي مومیو مرينه
چې پرځ ځي، پروا يې مه کړه
په لار کې دوې وي، لوړې ځوکې ـ کښ لښتونه
که ژوند و ژړ به راښکاره شي
د تورو شپو تر پلو لاندې سهارونه
د شهيد روح، په نور کې لامبي
ساده ژوندي يې، په ګور شمې بلوينه
په کريملين هم اختر نه دی
په کندهار باندې، که بل شول سره اوړونه
د افسانو رستمه څه شوې ؟!
وايي چې تخت ته يې روسان ختلي دينه
سور لښکر، هغه سره بلا ده
چې يا به خوړي او يا به وژني يا به مرينه
لور او سوتک به يې په کار شي
له زړهپوښو که راوبا سي سـروونه

قام به په هغو زمرو ویاړي
چې دین ساتي او خپل وطن آزادوینه
لکه د غرو مغرورې څوکې
د هر افغان سر دې، رب داسې جاړ لرینه

پاسنی

د روس وحشي لښکرې راغلې
بیا د «ژوړه» په مورچو بمې غورځوینه
ځوان د «ژوړه» مورچه کې ناست دی
توپک په لاس دی، سره روسان مردارینه
ځوانان وتلي دي سنګر ته
په سرو روسانو قیامتونه جوړوینه
روسان به څنګه ژوندي ولاړ شي
مجاهدین توپک په لاس سنګر ته ځینه
د «خوست» چوتۍ کې اور بلیږي
د مجاهد راکټ اورونه بلویږي
ما د «پکتیا» له غرونو جار کړې
چې پکې مات شول د روسانو کتارونه
د «حقاني» تر مشرۍ جار شم
په قوماندې یې لوی - وار په جهاد ته ځینه
د «حقاني» دتورې شرنګ دی
په روسي شوبلو باندې بل دي سره اورونه

مجاهد خیرمحمد د پکتیا له سنګرونه

عصمت قانع

ستا د لوړونو په ارمان یم

چې سهار به لمر راوخوت
زمونږ پر کلي به ژړا شوه
د ژوندون تړه نغمه به
په سازو کې، په نوا شوه
ښځلي به مور هر دښت شو
جنتي به مور بېدیا شوه
هر ځلمی به «پټي خان» شو
هره پېغله به «رابیا» شوه
مستانه وتو، له کوره
مستانه به، د ژوند وړا شوه

د ژوند هیلې به تودې شوې
د ځلمو به شور ماشور شو

په کوڅو کې به، د پېغلو
د پاپلو شرنګې خپور شو
د هر کور، تنور به، تود شو
هر نغري کې به، بل اور شو
د شپانه د نل آواز به
تاوید ونکی په هر لور شو
د مرګي بلا به، نه وه
د ژوند ژغ به، کور په کور شو

کرانې موښ به، په کوڅو کې
له وښو سره رغښتلو
هر نسیم به، ښکلولو
هر کلاب به، خندولو
خپل شینکي-کلالي کلي
په کل پاڼو لوبولو
له غمونو، خبر نه وو
خوښۍ-خوشال به، پاییدلو
چاپېرچل راته، الفت و
سولې- مینې به پاللو

حمایهٔ خود بوده ، به کنج عافیت می‌خزد و برای تضمین آیندهٔ خود می‌اندیشد . اسلام و مسلمین را در معرکه تنها می‌گذارد و حاضر نیست هیچ نوع خطری را تحمل کند . چنین مردی بدون شك از ایمان فاصله گرفته اند و در پرتگاه کفر و بی ایمانی سقوط کرده اند .

«لو نعلم قتالاً» چند مفهومی را افاده می کند :

اولاً :- اگر میدانستیم، که این جنگ با اصول و موازین حربی مطابقت دارد ، توازن قوای طرفین ، مساعدت شرایط، تهیه و آمادگی کامل رزمی و غیره در نظر گرفته شده است. اگر پلان مُوفق و مناسبی برای این جنگ سنجیده می شد ، حتماً در آن شرکت می کردیم ، ولی این جنگ ، جنگ نیست ، بلکه این تصمیم با تهلکه و خودکشی مترادف است .

ثانیاً :- شما ای عناصر مؤمن! با پذیرفتن نظریات ما دربارهٔ جنگ خود، این مطلب را ثابت می کنید که گویا ما با اصول حرب آشنا نیستیم . بناءً ان ما نخواهید که در جنگ شرکت کنیم . شما به مشوره های ما دربارهٔ عدم توسل به جنگ اهمیت قایل نشدید . گفتیم توازن قوا موجود نیست ، شرایط مساعد نمیباشد وسایل محدود است ، قوای دشمن برتری دارد ؛ ولی شما بدون توجه به این اقترحات، به میدان جنگ می روید ، شما می توانید به مقابله بپردازید، ولی عدم اهمیت دادن به مشوره ها و نظریات معقول ما به این معنی است که گویا ما جنگ را نمی فهمیم ، بناءً شما خود

وړ کتوب راشخه، ولاړ و
بس د ستړګو، رپیدو کې
ته په ستړشوې، په کورکې
زه ورګډ شوم، په غمو کې
اور مو یل شو، په کلبن کې
لوګې تاو شول، کړوندو کې
پرکلانو، وینې توی شوې
په باغونو - مامتو کې
زه روان شومه، سنګر ته
تا به وېلو، په سلګو کې :
توپې - توپې، په تورو راشې !
چې پرهارونه دې کنډم، خوله درکومه
توپې - توپې، په تورو راشې !
د بې ننګۍ آوازدې، رامه شه مینه

ما در پرېښود ، کور او کلی
هم شینکي - شینکي باغونه
دکلانو په حرم کې
د وړمو، معطر بویونه
دګل پانو، په باران کې
د بلبلو آوازونه

په کبرو- وږو کوڅو کې
هغه پټ- پټ دیدنونه
د کودر پر مسته غاړه
د کتار منګو سیلونه

د برین سنګر مې، کور شو
د وطن د پټ له پاره
سر مې کښنود ، په تلې کې
له راحته شوم، ببزاره
زلزلو سره همراز شوم
د خلاصون، پر لوبه لاره
ما رنګینه، وینه توی کړه
د خپلواك بهار له پاره
لا بهیبې مې، له تنه
لا مې څاڅي، له پرهاره

اوس ، چې تول، توپې- توپې یم
د زخمونو کهکشان یم
د خپل دین- وطن له پاره
رنګ په وینو ، د خپل ځان یم

پروت پر کټې د جنازې یم
بل جهان ته ور روان یم
ستا لوزونه راته یاد دي
ستا د قول په ارمان یم
چې ویل به دې، سلګو کې :
توټې - توټې به تورو راشې!
چې پرهارونه دې کنډم، خوله درکومه
توټې - توټې، به تورو راشې!
د بې ننګې آواز دې، مه راځه مینه

نو :

ستا د لوزونو په ارمان یم
راشه ! پر سرو شونډو مې، بنکل کړه پرهارونه

کوټه
۳ حمل ۱۳۶۵

سعدالدین شیون

اقتباس

دمهاجر شاعر خوب

خوب وینم: عالمه ! که یې څوک، راکړي مانه (معنی)
پروت یم، سر مې اینبی، د خپل یار په ځنګانه

سر په بالښت اینبی، تش کالبوت، په سواشنګتن کې و
روح مې په مزو- مزو، روان په خپل وطن کې و
واورې د سپین غره وې، چې په تنده مې سرویلې
خاورې د وطن وې، چې په سر مې بادولې
مړې اوښکې روانې وې، په مخ دانه- دانه

د ننه د "شمالي" ته شوم، انګور ميزان وهلي
تاك شينكي - زېرچكي، شوتالان پرخو پرېولي
كوز تكاب ته لاړم، د اغوزو لوبې وني
پاس وختم غره ته، د څېړيو پاڼې پلنې
خلك وو، بازار و، شور ماشور و، تله - راتله وو
مېږې وې، شپانه وو، هيا هوى و، شنه او سره وو
نه د وير وه څخنه - نه د غم وه نښانه

بيا مې شو كذر، لكه گربت، په لوى سالنګ
ويړې مې وزې وې، په څوكه - په گرنګ
واورې سپينې - سپينې ځليدې، لكه سپين زر
كوز روڼې اوبه وې، پرېوتلې لر او بر
زركو او بلبلو يې، په تېرو كې سندرې كړې
مستې - ځوږې هوا يې، اند ښني، له زړه نه لرې كړې
مورچې ځليدلې، لكه زلفې په شانه

خوب ويم: باغچه وې، تولې شنه په چناروښو
منځ كې يې صوفه وې، تولې پټې په تېغروښو
خوا كې يې، ويالې كې، د رښو اوبو توپونه وې
زه يې ياران وې، چلمونه - مجلسونه وې

بره خوا پټو کې، شولې څنې باد ته اچوي
خبل وي د چنچنو، تیتې الوزي-اتن کوي
مځکه او آسمان په ګډه،وایي ترانه

خوب مې،په وطن کې دی- خوردن مې،په وطن کې دی
خوب کې،چې هم مرمه ، څنکدن مې ،په وطن کې دی
قبر په وطن کې - جنازه مې، په وطن کې ده
تن مې،په وطن کې دی - کفن مې، په وطن کې دی
ماته،تابوت مه جوړوئ - ماته،ګلان مه راوړئ
روح مې،په وطن کې دی،او تن مې، په وطن کې دی
ګوندې یو شپون کې،وطن قبول کړي نذرانه
خوب وینم : عالمه ! که بې څوک، راکړي مانه



م، الف ـ نگارگر

پیامبران دروغین

بریز ساقی گلرخ تو باده گلرنگ
که جز به سعی تو نتوان گشود سینهٔ تنگ
چها که در دل خونین خویشتن دارم
اسیر فتنهٔ صیاد و با خودم در جنگ
کجاست اهل دلی تا درین خراب آباد
چو آبشار زنم پیش او سری بر سنگ
حدیث کینهٔ جادوگران عصر کنم
که آشیان مرا سوخت برق، توپ و تفنگ
به باغ من گل صدها امید پرپر شد
ز دست دیو سیه کاسه خنون آهنگ
سیاه کاری این داعیان صلح و سلام
سپید کرد رخ وحشیان بی فرهنگ

فراز چون نگری کرگسان روئین تن
گلوله های جگردوز شان بود در چنگ
نشیب چون نگری نره دیو آهن پای
به سوی خلق رها می‌کند هزار خدنگ
سر غرور مرا تا که بر زمین ساید
به صد تلاش همی کوبد آب در هاونگ
متاع کهنهٔ خود را به هرزه آب کنند
کسی نمی‌خرد اینجا حنای باخته رنگ
پیمبران دروغین قرن را شاید
که بشویند پیامی ز سرکشان فرنگ
کبوتری که پرد سوی خانهٔ شاهین
به دست مرگ دهد تاج و تارک و اورنگ
چو زی هرات فرستاد پور خود چنگیز
بگفت وای فرستادمت به کام نهنگ
کسی چگونه نماید اسیر قومی را
که تیزتک چو غزالند و حمله‌ور چو پلنگ

به بال شوق سوی دوست می‌کنم پرواز
که سر کنم به برش قصه‌های دور و دراز
بگویمش که چها رفت بر سر بلبل
ز دست آفت گلچین و حیلهٔ غماز

شد ست قبهٔ اسلام مسکن ابلیس
فغان ز دست چنین روزگار حادثه ساز
چگونه آبروی ملت خلیل ببرند
که جای کعبه سوی کیف می کنند نماز
به خون نشانده وطن را و مفتخر گشتند
به ننگ خویش چه خوش می کنند آخر ناز
به غیر خشت و گل تیره چیز دیگر نیست
وطن که دشت و درش بود کلبه بزاز
به اشک و خون عزیزان مگر وضو سازی
که آب گشت در اینجا به اشک و خون انباز
گناه ماست که بیهوده صید گردیدیم
وگرنه بود عدو کینه توز از آغاز
بدان شبان جفا پیشه چون توان بخشید
که گرگ بزدر خود دید و در نکرد فراز
به جغد شوم سپردیم سینهٔ تیهو
ز روی جهل بریدیم چنگل شهباز
ز تیر خصم فرو مایه عاقبت روزی
شکست شهپر عقاب مست و گردون تاز
خزان گرفت گریبان گلشن وحدت
برای زاغ و زغن ساخت فرش و پای انداز

حکایت غم خود را نمی‌توانم گفت
که نیست خامهٔ من چون دلم سخن‌پرداز
پی نجات وطن دست همدگر گیرید
ز گور خفته به خونان همی رسد آواز

ز درد و سینهٔ رنجور می‌کشم فریاد
که استخوان مرا سوخت آتش بیداد
به دست کینه ز گلزار من فرو افکند
هزار غنچهٔ لب وا نکرده را ناشاد
چو عندلیب گلو سوز ناله‌ام ز انست
که برق حادثه بر آشیان من افتاد
حدیث فتنهٔ چنگیز تازه کرد اینجا
غرور زخمی این کینه جوی مادرزاد
نصیب زاغ ز هر گوشه می‌رسد، اما
قناریان همه در بند حیلهٔ صیاد
گناه ما بجز از همت بلند نبود
که همچو سرو درین باغ بوده‌ایم آزاد
خوشا دمی که برون آیم از قفس و آنگه
به کام دل بدهم شرح فتنهٔ جلاد
ز خود فروشی این باغبان بخود پیچم
به یک خروشه ز خود رفت و گلشنش را داد

ما را معذور میدانید .

ثالثاً :- اگر نظریات ما را دربارهٔ جنگ معقول پنداشته و ما را به بیخبری از اصول حربی محکوم نمی‌کردید و مطابق پیشنهادات ما، در بارهٔ این جنگ تصمیم می گرفتید، حتماً آن شما تبعیت می کردیم .

علاوه از اینکه، عناصر منافق، خود از شرکت در جنگ اجتناب می ورزیدند، و تصمیمی دربارهٔ جنگ را محکوم نموده آنرا نادرست و بی مورد و غیر اصولی تلقی کرده با مرگ مترادف میدانند و بدین ترتیب از شرکت دیگران مانع می شوند . ولی اگر باوجود جلوگیری آنان کسانی از اقارب و دوستان شان در جنگ شرکت ورزیده به شهادت برسند و یا مجروح شوند، می گویند: اگر این مردم چون ما از شرکت در جنگ اجتناب می ورزیدند و در پهلوی ما، در کنج عافیت قرار میداشتند، نه کشته می شدند و نه مجروح و متضرر .

این تصور منافقانه از عدم اعتقاد این گروه بی ایمان مایه می گیرد - چنانچه قرآن می فرماید :

الذین قالوا لإخوانهم و قعدوا لو اطاعونا ما قتلوا قل فادرؤا عن انفسکم الموت إن کنتم صادقین .

(سورهٔ آل عمران : ۱۶۸)

ترجمه :

« آنانکه در بارهٔ برادران شان (که در جنگ شرکت

میاشتنی ادبی مجله

پیدگی

(۳۱)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَللّٰہُ وَلِیُّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا یُخۡرِجُہُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ ؕ وَالَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا اَوۡلِیٰٓـئُہُمُ الطَّاغُوۡتُ ۙ یُخۡرِجُوۡنَہُمۡ مِّنَ النُّوۡرِ اِلَی الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِکَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ ہُمۡ فِیۡہَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۵۷﴾

سورۃ البقرۃ آیت (۲۵۷)

وجہ اشتراک سالانہ :

در امریکا ۔ ۳۰ ڈالر

در اروپا ۔ ۲۵ "

در پاکستان ۔ ۶۰ روپیہ

شش ماہہ :

نصف قیمت

بانکی حساب :

حبیب بینک لمیٹڈ ، خیبر بازار برانچ ۔ پشاور

اکاونٹ نمبر : 7 - 3067